# روڼې شپې




وېناوال

محمد معصوم هوتک

[illegible] ش

Ketabton.com

www.hotakonline.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

| عنوان | مخ |
| --- | --- |

==========================================


| | |
| --- | --- |
| د سريزې پر ځاى | 5 |
| * چي رازونه مي سربېره نهاني وي | 7 |
| وداع | 8 |
| د نبايست مظاهره | 10 |
| د پلار تلين | 11 |
| * چي زخمي دي په بانړو زما د سترګو مردمک سو | 13 |
| سترګي | 14 |
| خامې | 15 |
| مينه که بېلتون؟ | 16 |
| استاد ته | 17 |
| اپتي کال | 19 |
| جنون | 20 |
| * مينه د پاخه سړک مزل نه دئ | 21 |
| زړونه | 22 |
| د استاد د راحت په اقتفاء | 23 |
| * په تمه د جانان مياشتي کلونه راځه ورک سول | 24 |
| تهور | 25 |
| د لېچو زولانه | 26 |
| تياره ماحول | 27 |
| د وينو استسقاء | 28 |
| پردۍ مېنه | 29 |
| پرديسي مور ته | 30 |
| توپير | 32 |
| *که له ګل سره همراز و، محوه کړي تماشو وي | 33 |
| بېخوندي | 34 |
| دومره نو، نه | 35 |
| موج | 36 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

عنوان — مخ

==========================================


را په ياد چې سې وطنه---------------------------------------- 38
*که د نن چارې د بخنبلو نه دي---------------------------------- 40
د سخت زړو واکمني ------------------------------------------ 41
تاج اخوندزاده--------------------------------------------- 42
مدني وحشت----------------------------------------------- 44
د کابل ناورين--------------------------------------------- 46
د الفت پر پله--------------------------------------------- 47
*ژوند خزان وهلی بهارونه ليري پاته دي-------------------------- 48
بد عواقب----------------------------------------------- 49
د استاد هڅونه---------------------------------------------- 50
بې جرمه مجرم--------------------------------------------- 52
*ښو ته ښه وايه که زما دي او که ستا دي-------------------------- 54
*يا الهي مه راوينې تجزيه د ګران وطن-------------------------- 56
تالا هوسونه----------------------------------------------- 57
روښي شپې---------------------------------------------- 58
ارمانجني چيغې------------------------------------------- 59
ارمانجني هيلې------------------------------------------- 60
په روڼو سترګو--------------------------------------------- 62
د مزار شريف د فتح په مناسبت-------------------------------- 63
کنګل------------------------------------------------------ 65
فتنه------------------------------------------------------ 66
د خولګۍ ټکور------------------------------------------- 68
د مبني مينه--------------------------------------------- 69
تنګه قافيه---------------------------------------------- 71
نهه توره---------------------------------------------------- 72
زخمي نارنج-------------------------------------------------- 73
*مه کړئ نفاق پر کرونده د ملک-------------------------------- 75
شاکي مور---------------------------------------------------- 76

(c) ketabton.com: The Digital Library



| عنوان | فهرست | مخ |
|---|---|---|

==========================================


يتيمي سلګۍ ---------------------------------------------- 77
د قرن وروستۍ غزل ---------------------------------------- 78
Y2K ------------------------------------------------------ 79
مبارکي -------------------------------------------------- 80
د هيلو مزار ---------------------------------------------- 81
مه راوينې ... (آزاد نظم) ----------------------------------- 82
د اوريځو ګالري ------------------------------------------ 84
*نورو که خوږې کړې، ځورولی ژړولی يم --------------------------- 87
زه ولاړ وم ----------------------------------------------- 88
مازيګره ژيړی لمره ---------------------------------------- 90
زندۍ ---------------------------------------------------- 94
د نازولو کور -------------------------------------------- 95
*د احسان يې زما پر سر دی همېش سيوری ------------------------ 96
*ما په زړه کې تصور کړل ----------------------------------- 97
پښتانه ته وايم ------------------------------------------ 98
دلي او هوري --------------------------------------------- 99
*زما مينه اولنۍ د پرېښولو نه وه هيڅ --------------------------- 101
چې دا ولي؟ ---------------------------------------------- 102
نازم از اينکه باز چه زيبا شده پشتو -------------------------- 104
خوندونه او شخوندونه (ځلورځي) ------------------------------ 105

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سريزې پر ځای

تعامل داسي راغلی دئ چي پر شعري مجموعو باندي له شاعر پرته نور کسان سريزې و تقريظونه کاږي، زما خو يو شعر د دې نه دئ، چي چاته دي يې ورښکاره کړم او بل مي خانمرې خوله هم د دې نه ده، چي چاته دي يې حتی د ښه او ګټور کار خواست په وکړم، ځکه مي پر خپله شعري مجموعه پخپله يو څو توري وکښل.

د دې مجموعې زياتره شعرونه ما د شپې ويلي دي، ځکه مي نوم (رونې شپې) پر ايښی دئ[1]. (شپه رونول) زموږ د ادبياتو يوه خاصه اصطلاح ده د هغه چا په باب کاريږي چي يا د بېلتانه له درده يا دميني له شوااخو نه، يا د رنځ له اسيته يا د نورو نادودو له خاطره يې خوب تښتېدلی او شپه يې تر سهاره په ويښو وهلې وي. زه د جلاوطنۍ ناورين شپو رونولو ته اړ کړی يم. په جلاوطنۍ کي مي د اولاد د نفقې برابرولو په خاطر داسي کار ته اوږه ورکړې وه او ده چي نه د سن په لحاظ ورته جوړ يم او نه د ذهن له مخې. د دې کار وخت له لمر لوېدو تر لمر ختو و او کلونه يې دوام وکړ، چي په څنګ کي يې د نظمونو دغه مجموعه هم وزېږوله.

په دې مجموعه کي يو نيم عشقي و بزمي شعرونه هم سته چي ما د ځوانۍ پر وخت په هيواد کي دننه ويلي وو. دا شعرونه د مجموعې له عمومي روحيې سره جنداني سر نه خوري. هيله ده ښاغلي لوستونکي دغه نا هماهنګي ډېره جدي و نه نيسي.

---

[1] د ``رنې شبې`` په نامه د داستايوفسکي د يوه اثر پښتو ژباړه په **۱۳۶۵**ش کال په کابل کي خپره سوې ده. د دې اثر روسي نوم ``ببلې نوچ`` دئ چي پښتو ژباړه يې بايد ``سپيني شپې`` وای. سپيني شپې په روسي ادبياتو کي ځانګړی مفهوم لري او زما په خيال له رونو شپو سره توپير لري. دې موضوع ته پښتو ژباړونکي (ښاغلي يوسف صابر) د سريزې په شپږم مخ کي اشاره کړې ده، خو له دې سره سره يې ``رنې شپې`` تر ``سپيني شپې`` غوره بللې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## روڼې شپې

زما د شعرو هنري خوا پیکه ده او په دې نه ارزي، چي څوک دي پر وږغېږي. خو زما د ذهني حالت په تمثیلولو کي، فکر کوم، مرسته کولای سي او ما یې په همدې نیامت د چاپولو او خپرولو اراده وکړه. خذ ما صفا دع ما کدر

محمد معصوم هوتک
ټورنټو - کاناډا
۲۲ ډیسمبر ۲۰۰۳ع
د شپې دوې بجې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي رازونه مــي سربېــره نهانــي وي
پر مغزو باندي مي تنــدر اسماني وي
زما زړه د هغــه وخت پــه ارمان سوځي
چــي خويــونه عادتــونه انساني وي
د جګړې خپسکه پورته وي له مځکي
تــوغ د ســولــي رپېدلی جهــانــي وي
بيرغــونــه را نسکــوره د هغـــــو وي
چي تر لاندي يې لښکري شيطاني وي
اهــريمــن کــه د کــوثــر د جام ساقــي و
خــود به خلک ليــونــي بيــابانــي وي
ماديات خـــو سراسر سرګــردانــي ده
لذتــونه را معلــوم سول، روحاني وي
د زمان و قــدرتمــن ته بــه تېټ نــسي
(که نشــه د چا په سر کي افغــانــي وي)

======

کابل
۱۳۶۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وداع

پسله ډېره تحمله
پسله ډېره صبر و زغمه
پسله ډېرو منډو ځغاستو
پسله ډېر غم و ماتمه
له اوږدو چورتونو وروسته
پسله ډېر سوچه، منمه
راځه پاته دا جونګړه
راځه پاته دا کورګی دئ
======
که هر څو ده راته سخته
که هر څو ده دردونکې
سرنوست خپل حکم کړی
زمانې فیصله کړې
بخت ناخقه بدنام سوی
آسمان مخکې لا منلې
ښه پوهېږم چې ناپایه
سمندر دئ په ګډ ېږم
تاسې[2] نه وینئ عالمه !
په ها زور چې زه ګوابښېږم
تاسې نه سئ درکولای
په ها اور چې زه سوځېږم
هر یو ګام مې خودکشې ده

[2] تاسې = تاسې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر قدم ده سره سکروټه
هر مزل راته زندان دئ
هر رباط دئ د اور ګټه
نه مې دلته ټپکاو کيږي
نه مې هلته څه اميد سته
نامعلومې خواته دورمم
نه يې ټک سته نه يې قيد سته
======
اريانا الوتکه - د کندهار پر لور
۱۳۲۵ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښايست مظاهره

مقـدر هلـه سـو عكس ستـا د ښېرې
مكـدر چـي پـه جپـوه سـوې آينې
دا دي زما زړه تـه د حُسن لـومـه سر كړه
كـه د خپـل ښايست كـوې مظاهـرې
بوی د زلفو دي ناچل (شام پاريس) كړه[3]
چارلي عطـر ورته ښكاري بوی د پېنې
د لمر مخ له ډېر حسده سره ټكـې سوه
چي ما ستا له شونډو واختسې بـوسې
چا ويـلـه چـي دا پـرخه د سهار ده؟
په كتـلـو ستـا د مـخ سو گل خولې
بل معيـار نستـه د مينـې په دنيا كې
بس هـر څـه بـه د ښايست په تول تلې
زمـا زړه دئ قلمـرو د يـوې مينـې
ستا اختيـار كـه يې منـې كې نه منې
زه پښتـون يـم دورنگي مې پېشه نه ده
په ريشتيا سره مې هو، هو ده، نې، نې
اوسنۍ مينـې فقط يـو آن هوس وي
خو عشق زما كره مبلمـه دئ د دوربې[4]
كه زما د مستـۍ بزم يو ځل تـود سو
ساقـې ته به نـو بيا شينـې گـروې
پام كـوه فـواره نـه سـې د وينـو
د معصـوم پـه زړه ببيـاكـه لاس وهې
======
كابل - ۱۳۷۵ش

---

[3] شام پاريس يو ډول مشهور عطر و په انگرېزي يې Evening in Paris بولي.
[4] (دوربه) د ژمي مسلسل باران ته وايي چي څو ورځي دوام وكړي. په دغو بارانو كي كه د مبلمه يوه شپه په خيال كې وي، هفتې پاته سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پلار تلین[5]

د بابا د فــراق تليــن مــي ايشــوي ماغــزه د سر
بابا نه و، يــو کــلا وه زمــا و سا تــه و لــوی غر
ځومره ستر عالي انسان و د ښېګڼــو لــو هستي وه
لوړ همته، نېک خصلته، نېک عملــه، دانشــور
د دنيا زياتر صفات چي په بشر کي مونــدل کېــږي
په زياتــــرو متصف و، ده لـــرل پــه يکــېر ســر
د باطن خيره يې نه وه، سم صفا سوچه پښتــــون و
سپين کالی و، پاک نظيف و، نوراني ښکلی بشــر
مهــربانــه پــر اولاد و، قهــر يــې ما نه و ليدلی
ترحم يـــې پــه يــو شان و، پـــر ووړ زوړ د خپل ټبر
د هيواد و تــرقـــي و پـــرمختـــګ تــه يې هوس و
پر غازي امان عاشـــق و د انګــرېـــز د زړه خنجر
نازېدلـــی به همېش د خپل هيـــواد په مفاخـــرو
پـــه افـــکـــارو و تـــر ډېـرو روښنفکـــر و منور
په څه ناز يې وم لوی کړی پـــه څـــه مينه يې روزلی
چي دا مات و ګـــوډ ليکمـــه دئ د ده د زيار ثمـــر
شپږ شپېته کاله يې تېر کړل په عزت و په آبـــرو کي
پرهېـــزګـــاره مـــتـــقـــي خـــو لـــه ريـــا څخه بهر
ډېر ظالم رنځ ســـو وريوري واک د ژبـــې ځني ووت
پوره شپږ مياشتي رنځـــور و راته پروت و پر بستر
که دوا وه، که ډاکتــر و که زيارت و که تعويــذ وې
بندګـــي سعيه مـــي نـــه ده سپمـــولـــې لـــږ قدر

---

[5] زما ارواښاد پلار حاجي محمود هوتک د ۱۳۵۲ش کال د اسد پر ۲۲مه په کندهار کي وفات سو تو پخپله پلرنۍ هديره کي ښخ دئ. (هوتک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند و ژواک، کـــور و کهول و راځه پاته یو مخیزه
و خدمت ته یـــې ولاړ وم پـــه اخـــلاص شام و سحر
دیارلس سوه شپږپنځوس وه له هجرت څخه اوښتي
په شمسي حساب یې ټول کړ د خپل عمـــر پاک دفتر
څه بې مهره دنیاګۍ ده څـــه ظالم خونخور فلک دئ
چې نیازمـــن وو ټـــولـــه ولاړل د مرګي په لوی سفر
سرښتـــه د دنیا دا ده چـــې مـــرګـــــی به خامخا وي
مړه یې مه بولئ ژونـــدي دي که په ښه نوم وو نامور
د معصوم دا یو څو اوښکې د بابا روح ته هدیه سوې
مغفرت دې وي په بـــرخـــه په جنت کې یې مَـــقَـــر

آمین

======

کابل - ۱۳۶۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي زخمــي دي په بانــو زما د سترګو مــردمک سو
مين زړه مي نه ايـمنيـږي راتـه جوټ لـه طفلک سو
چي په مينه کي دي ګراني د صحــرا ليــونی نـه سوم
مجنون ګوته په غاښ کښېکښه، له حيـرته څه هک پک سو
شاباس، شاباســي زړګيــه، تــه لا نـه چوې له ګرومه
تاب د ميني چي دي راووړ په تاريـــخ کي دي نوم حک سو
د غاښــول څــه ګناه نــه ده که تک سور لکه قاتل دئ
چــي د مينــي داغ يــې وخــوړ د زړه وينـي يې خورک سو
د سفر شپـــې يـــې مــه شمېــره عافيت ورلـــره غواړه
پروا نستــه کــې له هجــره عقل و فکـر راڅه ورک سو
که يې زموږ ښايسته ناوې د وصال په شپه کـړه کونډه
په دوی هم سو نوغی پـوري خپل عمل يې پای پېچـک سو
که په ستوخه لهجه ګـډ دئ، پــه تلخــي که يې مـزه ده
حق ویل د معصـوم جـرم، څــکه نـوم يـې لا درک ســو

======

کابل - ۱۳۲۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سترګې

چي مــي ولیــدلــې ښکلي شهلا سترګي
رنډې سترګي مي یو دم سوې بینا سترګي
د مین مینــه لــه ستــرګــو څــرګنـد ېږي
په یـــوه کتــو کـړي ټول راز رسوا سترګي
د مجــرم جــرم پــه سترګو کي معلوم وي
د مظلــوم مظلــومیت کـړي نمــا سترګي
ستــــرګــــي نــه دي آیینــه جهــان نما ده
پــــه یــــوه رپ څـــاري ټــوله دنیا سترګي
د سپین مخ ښایست په سترګو کي دئ نغښتی
غټي سترګي، بادامي سترګــي، ستا سترګي
د ښــایــست د دښــمنـــانــو لـــــه نظــره
خدای دي وساتي ستا ښکلي زیبا سترګي

======

کابل - ۱۳۲۵ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خامۍ

کړېدلی چي پر اور د بېلتانه يم
د ډاکټر و د طبيب و دوا نه يم
په بېلتون کي د هستۍ مقام صوري دئ
په ښکاره که يم موجود بې له تا نه يم
زما د مرگ لام يې تړلی ورته گوره
روڼې سترگي ورته ناست يم ته وا نه يم
د ابا په خولۍ وياړم بل څه نسته
په مثال د محمد زيود (وانه) يم
نتيجه ده د خامۍ چي فريادي سوم
د زمام پر بتۍ پوخ سوم، ښه لا نه يم
د شپيليو په نغمو کي درته وايم
د سرېو ده نيستي چي زه شپانه يم
ما معصوم ته حق راپل لرئ يارانو!
لږ څه وروسته درڅه ځمه په يانه يم

======

کابل - ۱۳۲۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مينه که بېلتون؟

چي لاهو سومه د میني په دریاب
اخته سوی یم په درد و په عذاب
په ښایسته وو کي چي بوی د وفا نسته
ډېر دقت به کړم پر بل وار انتخاب
که د میني انګار نه وای زما په زړه کي
په بېلتون کي به یې ولي وای کباب
شکایت د بېلتانه چي کړم ناپوه یم
ټوله مینه ده چي سوم په اضطراب
چي د ژوند تقویم ته مینه سوه داخله
د بېلتون د شپو یې څله کړې حساب
که دي ځان ورکړ د میني سمندر ته
د بېلتون له غوټو نسته اجتناب
د دنیا تاداو یې ایښی دئ پر مینه
د انسان ختې تې ورکړ د عشق آب
خو بېلتون سیوری د عشق سم په پسې دئ
هله نه وي، که عشق نه و آفتاب

======

کابل - ۱۳۲۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# استاد ته[6]

لـوی ښـېـرونکې، محققه، ستر استاده !
افتخـار د منطقــې پــوهـانــد رشــاده
جسارت دئ چې په وړاندې مو ږغېـــږم
بخښـــه غـــواړم که مــې کـړې دا گناه ده
دا چــــې نن د معــرفت ډگر روښــان دئ
دا چې نن لا هـــم خپـــره د علـــم رڼا ده
دا چې سخر ته د تحقیق وار خطا نــه یــو
دا چې نن مو له پــــردیــو استغنــا ده
دا چې نن په جگــه غاړه بانــدې گـــرزو
دا چې نن مــو د سیالــۍ بــرخـه بالا ده
نتیجـــه ستاســـې د زیار و د تحقیـق ده
ثمـــره ستاســـې د فضل پــه ریشتیـا ده
هر اثـــر مـو منتخب دئ و شاهـــکار دئ
هر کلام مـــو په مثال لکـــه کیمیـا ده
چې تر خـــولـــه مـــو راوتلــې ده خبره
وجیزه د بـــو علـــې ابـــن سینـــــا ده
مفتیان د معنا تــولـــه غلــې کښېنــې
اوربدلې چـــې یـې ستاسې څه فتـــوا ده
فرهنگیان دې له قاموس څخـــه بې نیازه
ورښـــولـــې مـــو د هـــر لغت معنا ده

[6] د ۱۳۲۵ش کال د اسد په میاشت کې زما محترم استاد او لارښود پوهاند عبدالشکور رشاد صاحب د زړه له رنځه بستري و. زه یې پوښتنې ته هره ورځ ورتلم او یوه ورځ مې د گلانو پر ځای دا پورتنی نظم ورته ولوست. (هوتک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدسیان یې په اسمان کې په شرنګ لولي
ستاسي شعـــــر یې وظیفه د هر سبا ده[7]
په خــه مینه کــــړئ د ځوان نسل روزنه
ځــــو مره ډېــره پېرزوینــه مو پر ما ده
زه یـــو ستـــړی لالهانده ورک لاروی یم
ستاسي شمعــه د دانش مــــي رهنما ده
افتخار چي د محضر مي ســـي په برخه
زه چـــي وایـــم د نـــړۍ پاچهـــي زما ده
ما رنځـــــور ته ستـاســي هره لارښوونه
د حاذق طبیــــــب نسخـــــه ده او دوا ده
ستاسي حق نه ادا کیــــږي په ځو لیکو
د احسان تـــــر درانه بار مــي کـړه ملا ده
یو خـــو زما ژبـــه رخنــه، قلـم پـخ دئ
بل نېستـــــي د بضاعت مي هم په خوا ده
دا نیمګړي ځو بیتـــــونه مـــي هدیه دی
د ژور ارادت بـــــــرخــــــه پـــر بــــالا ده
په ساړه باد مو خدای مـه وهه فاضـــلــه
د معصوم په شپـه و ورځ دغـــه دوعا ده

======

کابل - ۱۳۲۵ش

[7] دغه بیت د حافظ شیرازي د دغه بیت ژباړه ده:
صبحدم از عرش می‌آید خروشی عقل گفت
قدسیان گویی که شعر حافظ از بر میکـــند

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اپتي کال

دا پـه ختـه ادمــزاد دي کـه پېــريان دي که جنات
لـــوتېـــده پـه سيـالـي کاندي، د مرګو مسابقات
نه يې رحـم سته په زړو کې، نې حيـا زموږ له کروړو
د مظلومـو اوښکو جوړ کړ آمـو سيند ، نيل و فـرات
اپتــي کـال دئ د (وَسَــي)[8] لعنتــي هښمــه راغلې
ټول حاصل يـې راثـه يووړ دې بــې وخت برسات
چې زندی، د ظالمانو واک د خولې راښخه واخيست
تـرشــح د وينــو ســر ســوه د بـدن تـر مسـامات
زما قدرت د مېږي نستــه، راته پروت د هاتي بار دئ
زه اريان عـادي ســړی يــم کلـه کـړای سم کرامات

======

کابل - ۱۳۶۵ش

---

[8] وَسَه: د دوبي باران، پشکال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنون

په در د میخانه کې د تقوا سپاره پیاده سي
د خال په ځلېدو ګوره محراب آتشکده سي
په ډېرو تقوا ګانو مې سوه وچه د ژوند درخته
ایله که د شرابو په سیند بیرته زرغونه سي
ما، مینه د ښایست وو لنډ مزل تصور کړئ
کلونه دي په کار چې دا اومه مېوه پخه سي
د عشق وړ چې په پوري سي ناسور سي لاعلاج سي
له تاوه ځه د مینې زوردانه د ټک دانه سي
د ختې قصور نه دئ، د معمار مهارت غواړي
چې یو ځای ګلخانه، بل د لالو ملنګ تکیه سي
ناخوالو د رقیب چې مې بیده احساس راویښ کړ
قلم مي لیونی سي هر غزل مي قصیده سي
هر بیت هره مصرع مې د خوږمن زړګي دوا ده
علاج ته د لچنو سترګو جوړه مامېره سي
طالع ده که بل څه دي زما په برخه یې نېستي کړه
چې ډک دریاب ته لاس کړمه خالي تشه پیاله سي
معصوم چې ګناهګار سو له دا نورو ګیله نسته
اسلام به چیري پاته وي چې کفر پر کعبه سي

(العیاذبالله)

======

کابل - ۱۳۶۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



مينــــه د پــا خــــه ســړک مـــزل نه دئ
غــرونــه دي پېـــچومي کږې لاري دي
عقل واى[9] اثبات د ميني څــــه شي دئ؟
زړه وايــی زمـــا د وينـــــو داري دي
تا د استغنـا نيـلـــی ځيــن کـــړی دئ
زما درته زاری دي او کـــوکـــاري دي
خير که نن مغلوب ستـــا په افسون يمه
جنگ تـــه مـــي سبـا توري تياري دي
حسن چـــي متـــاع د بازارو نـــه وي
هغـه زمـــا د مينـــي خـــريـــداري دي
ستا که د راتلو خيال پر نېستی حساب
زما د انتظار شپـــې بـــې شمـــاري دي
======
کابل - ۱۳۲۵ش

[9] واى = وايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زړونه

وايي چې فرمان د زړه پر ټول بدن چلېږي
زړه هغه جونګړه چې په مينه اباد ېږي
(سپين زړه) د صادق زړه، د دروه دغل به پکې نه ويني
بل که رډ درواغ وايي لا هم يې زړه ته لوېږي
(مات زړه) د مايوس زړه چې زمان پر مخ وهلئ وي
بخت مې واى نتلى ډک درياب راته تشېږي
(تور زړه) بدګومان زړه صفايي يې محوه سوې وي
لاس که پر قرآن ږدي لا هم يې باور نه کيږي
(لوى زړه) د زړه ور زړه چې په غېږ د حادثو ورځي
غر که يې مانع وي لا هم نه وارخطا کيږي
وصف د ظالم چې وايي (زړه يې د ډبري دئ)
مخ ته که يې سل سرې حلال کړې نه ډارېږي
مينه که غالبه سوه، دا زړه بوله (نازک زړګى)
لږ څه يې پلمه سي، کرى ورځ درته زړيږي
(خوږين زړه) هغه زړه چې په لمبو د انتقام سوځي
ويني د غليم چې لا هم ورکړې، نه سرېږي
هغه زړه (پوره زړه) چې دنيا يې بې شمار وي
پټ په ميړنو وي، شا يې غره ته نه بيرېږي
(شين زړه) د مظلوم زړه چې ناخوالي ډېري ووينې
نخښه د ګوزار ده، کبود رنګ چې معلومېږي
زړه که جسور نه و د (کوچني زړه) په نامه وي ياد
سمه صفا لار ورته ګرنګ ښکاري، ترهيږي
زړونه سوه څو ډوله، د معصوم فيصله دغه ده
سپين زړه که د چا و، تل په ښه نامه يادېږي

======

کابل - د مابنام ۶ بجې - د وري لومړى ۱۳۶۶ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د استاد راحت په اقتفاء

(تا تصـــور کـــي رابلل غــــوارم
نـــوې دنيـــا ابـــادول غـــوارم[10])
په عــــــواطفـــو د مين زړګي مي
غـــرور د حســـن ماتـــول غـــوارم
چي يې ممنون سم د خندا پـــه احسان
شعري احساس مـــي تخنـــول غوارم
د سپين تنـــدي د ننـــداري په اسره
د تـــورپيکـــي رالنـــډول غـــوارم
څومره چادي چي وای سرکښـــه مينه
په نصيـــحت ارامـــــول غــــــوارم
که مجازات يې وي د شـــونډو دوزخ
روژه د صبـــــر ماتـــــول غـــــوارم
د مـــخ ګـــلاب يـــې د حيـــا پـــه شبنم
د وصل شپـــه کـــي لمبـــول غـــوارم
هجـــر مېلمـــه ســـو ورته خاندم به نور
د ښېنتـــو دود پـــــر ځای کول غـــوارم
د (راحت) شنخته د (معصوم) پر غزل
په نېک شګـــون سينګارول غـــوارم

کابل - ۱۳۶۲ش

---

[10] د ارواښاد راحت زاخېلي پر دغه بيت مشاعره جوړه سوې وه، زه خو مشاعرې ته چا نه وم ور بللی، خو شعر مي جوړ کړ. (هوتک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تمه د جانان میاشتي کلونه راڅه ورک سول
تروږمۍ کي د هجران يې وصالونه را څه ورک سول
په سترګو مي لږ پوه کړه چي هوس دئ او که مينه
ګرم نه یمه ښایسته وو ، پټ رازونه را څه ورک سول
زما خیال و چي قاصد ته به په زیري کي سر ورکړم
جنون ته خو مو پام دی، سوغاتونه را څه ورک سول
رسمک مي د بابا دئ چي جنت سودا کومه
د شونډو په انګار کي دوزخونه را څه ورک سول
سمسور بڼ مي د ميني د جفا سپلیو لاښ کړ
اغزي يې دومره ډېر سول چي ګلونه را څه ورک سول
څپو د حوادثو يم اخیستی نه پوهېږم
نې سر سته، نه يې ښکر سته، ساحلونه را څه ورک سول
د میني په قانون کي خو شکوه غټه ګناه ده
په عشق کي ملا کوچنی سوم معیارونه را څه ورک سول
شاعره لېونتوب دئ چي سراب ته يې په تمه
موږ هم په دې نیامت تلو خو ښارونه را څه ورک سول

======

کابل ۱۳۶۶ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تهور

د زړه مينه مې ګورئ چې خوندي ده په انګار کې
نمروده پر دا عصر بل آذر نه يم نو څه يم؟
ځلاند احساس مې وينئ چې غالب پر توره شپه دئ
له لمر سره په نور کې، برابر نه يم نو څه يم؟
شمال[11] و حوادثو ته مې کلکه سينه سپر ده
په عزم و اراده کې اوچت غر نه يم نو څه يم؟
بقا مې ده موندلې په څپو و په موجو کې
په سختو توپانو کې شناور نه يم نو څه يم؟
د زړه کوتلې وينې مې مايه ده د مستيو
د سرو شونډو ګرمۍ ته ډک ساغر نه يم نو څه يم؟
د سپين مخ خزانه چې يې د زلفو ښامار ساتي
خالي لاس پر مين سوم دلاور نه يم نو څه يم؟

======

کابل - ۱۳۲۲ش

---

[11] مقصد روسيه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لېچو زولانه

چي تر غاړه مي را تاو د سپینـــو لېچـــو زولانه سوه
آرام ژوند پر ما حرام سو ، کور د میني جېلخانـه سوه
مړوندونه تر سر لاندي، د کوڅو سیوري پـري باندي
سر تر پایه مینــه مینــه، یارانـــه پـــر یارانـــه سوه
د ښکلا د معجون زورو ، پښتني سترګي درنې سوې
تېتېږه خو بې ګناه وه، په شوګیر مي کړی شپه ســوه
عاشقـــي څــه ښــه مسلک دئ، مینتوب عجبه رشه
عاقیبت بې لېونتـــوب دئ، په جنون بې پیلامه سوه
په څلـــور سره مذهبــه یـــې باڼو قصاص طلب دئ
د ازل د کاتب کښلــي ورته خـــوشي بهــانـــه سوه
په جاهل امام پســـې وم چـــي لـه میني وم خواتوری
د سیني پر حریم باندي مي د سهــــوي سجــده سوه
د مجنـــون نکل بې زوړ کړ د فـــرهاد کیسه مردوده
زما عشقه درواري سم، عالمګیــــر دي افسانه سوه
معصوم هیڅ ګناهکار نه دئ، تقوا ســوزي میني ړوند کړ
جنتـــي باغ ارام یـــې، تــر نظـــر د اور شېلـه سوه

======

کابل - ۱۳۲۷ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تياره ماحول

په تياره ماحول کي ناست، زړه مي نرى
په خپل کور، پـه خپل وطن کي يم پردى
خداى ناترســو اورشو دومره کړله تنګه
چي هر پل ايـــږدم تــر لاندي وي اغزى
په اميد د روڼ سبا مــي ترخه نوش کړل
په ارزو د پتمـــن ژونـــــد وم لاروى
نن منــزل هـــر ګوره لېري راته ښکاري
دا پـــه دي چـــي نـه لـــرو د سر سرى
حوادثو ته چي ګورم، پاى يـې وران دئ
دا وطــن د ژوندون نـه دئ يـــو ګـــړى
دا څـــه لـــوبـــه زمانـــې ده شروع کړي
خوږ ژوندون مو سو د مالګي مالګوبى
د معصـــوم د زړه ښيښه وينـــم ماتيږي
مګر خداى يې کړي له غيبو څـــه پترى

======

کابل - ۱۳۲۸ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وینو استسقاء

دا راغلـــی څـــه ناوریـــن دئ نن سبا
لـــه سهـــاره تـــر ماښامـــه په غوغا
تـــه بـــه وایـــې خلک ټوله راغونډ سوي
کـــړي د وینـــو و باران تـــه استسقاء
مرګی سمدم راپسې دئ لکه سیـــوری
هـــر ګـــړی مـــو ده پـــه وینو کـــې لمبا
د قدرت هوس یې ستـــرګې ړنـــدې کړې
د شیطان په ټونګ درست وژني بې ګناه
چې مقدور نه وي نجات پکښې د خلکو
لـــګـــومـــه پـــه نظـــام تـــوره بـــلا
اوربـــدلـــې مـــې کیسه د کفن کښ وه
نن یې وینم، ســـر تـــر پایه سوه ریشتیا
جرم یې و ښیئ، پـه څـه باندې مجرم دي
چـــې مـــدام دي پـــه ژړا پـــه واویلا

======

کابل - ۱۳۲۸ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پردۍ مېنه

په پـــردۍ مېنـــه کـــي اوسم راځه ورک خپل مرز و بوم دئ
ځالګـــۍ د باز ويجاړه کـــورګـــۍ جـــوړ باندي د بوم دئ
زما وطن، زما کندهاره لويشت لويښت خاوره دي جنت ده
د کـــوڅـــو مټ دي اکسيـــر دئ، د رنځـــورو زړو او دوم دئ
دلتـــه هـــر څـــه بېګانـــه دي، دلتـــه هـــرڅـــه نااشنا دي
هـــر غاټـــول هـــر نستـــرن او هـــر ګلاب لکه زقـــوم دئ
نې ښايست، ښايست ته ورته، نې خوښـــي خوښۍ ته پاته
پـــر بدرنګـــو و بدشکلـــو باندي پروت د ښکلا نوم دئ
نه مستـــي وينـــم پـــه جام کـــي، نه محفل ډک له رندانو
د کاختۍ د کال ساقـــي دئ لـــه ګنډېر څخه ډک خوم دئ
ملامت نـــه دئ يارانـــو چـــي پـــه وينـــو درتـــه ژاړي
مقدس هيـــواد ترې پاته، ناوريـــن ځکه پر معصـــوم دئ

======

۱۳۲۸ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرديسي مور ته

اې زما پرديسي، زما زهيرې مورې !
په فرسخونو راځه ليرې مورې !
منم کړېږې په فراق د اولاد
تپاک د زړه دې گوتې کلوچې کړلې
منم خوټيږې د هجران په لمبو
چينې د سترگو يې دروچې کړلې
احساسومه ستا د اوښکو گرمي
احساسوم دې د مات زړه دردونه
رايادومه ستا د ناز خبرې
را په زړه کيږي تېر خوارۀ وختونه
رامعلومېږي ستا د ستونې تلخي
راته واضع دي ستا پنهان رنځونه
راته ښرگند ستا آرزو و ارمان
ها ستا خبره د "تور مخ زيارونه"
خو زما پرديسي ! زما زهيرې مورې !
په فرسخونو راځه ليرې مورې !
ملت اخته دئ له پرديو سره
جگړه ده، جنگ دئ خوشې ټوکې نه دي
دا د مرگو د برسات تنا ده
د بهارونو نغمې کوکې نه دي
دا د خونې سمندر توبښ په هوا
پاس په اسمان کې سوې د مرگ وريځې
را اوروي د سرو گوليو باران
شنې يې کړې يو مخې د مرگ بوروځې
دا پر لکې د شياطينو سپرو
په زرو ميندې راته بورې کړلې
زامن يې بېل کړله له ميندو پلرو
په مخ سپېرې يې ښايسته حورې کړلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موري ! يوازي ستا ښېلتون نه سوځي
يوازي ستا پر سر لمبې نه څرخي
دا سرنوشت دئ د زرګونو مېندو
يوازي ستا پر سر اورې نه ګرځي
آې زما پردېسي ! زما زهيري موري !
په فرسخونو راڅه ليري موري !
دوعا کوه چي دا د مرګ د قاصد
لاسونه لنډ سي له وطنه څخه
ټول سي ټغر د ماتمونو د غم
نېستي سي واک له اهريمنه څخه
چي پنځه وخته خدای ته لاس پورته کړې
ورڅخه غواړه آرامي د وطن
د اتفاق و اتحاد خواست کوه
غواړه له خدايه نېکنامي د وطن
لېري يې مه ګڼه زما ګراني موري !
چي دا نغرى به يو واربيا تود ېږي
پر دې وطن به د ملت په موټو
د خوشالۍ ملي سرود ږغيږي
لېري يې مه ګڼه زما ګراني موري !
چي لاس به لنډ سي د پردو له ملکه
سمسور به بڼ سي پر دا ورانه مېنه
ټول به بساط سي د اغزو له ملکه
ستا د کلونو د زيارونو ثمر
سره راغونډ به سي، را ټېک به سي ټول
ستا د پلو سيوري دي نه ورکيږي
تر لاندي غونډ به سي ستا کور کهول

انشاء الله تعالى - فان مع العسر يسرا ان مع العسر يسرا

======

کراچي - ۱۳۷۰ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توپير

مغـزونـه سـره يـو دي پـه فکرونو کې توپير سته
په سترګو کې فرق نسته ديدنونـو کې توپير سته
ليلا ده، که شيرين ده، که دُرخو ده، که رامين ده
د عشق کيسه يوه ده په نـومـونـو کې توپير سته
د حُسن پر تقديس باندي هيڅ راز اختـلاف نسته
ښکلا يوه ښکلا ده، تعبيـرونـو کې توپير سته
د مينـې په عظمت کې شک شهبه نستـه عالمه
خبره ده پر دې چي په عشقـونـو کـې توپير سته
بېلتون دئ که وصال دئ پرد ېسي ده که حضر دئ
يو مخ ټول شواخون دئ په دردونو کې توپير سته
پښتـون له پښتـه يو دئ د يـوه نيـکه اولاد دئ
دا څه ماليخوليا ده؟ چي قومـونو کې توپير سته
د وينو سور سېلاب زمـوږ پـر مېنه راروان دئ
سورنا د غم ږغيږي په تالـونـو کـې توپير سته
په راز راز ادعاګانـو يـې غلط نه سئ زلميو !
جګـړه پـر اقتـدار ده بيانـونو کې توپير سته
هدف د ټـولـو يـو دئ زموږ د کور خرابېده دي
د سره تور استعمار په تاکتيکونو کې توپير سته
په نن و پـه سبا مـې غـولـوي مقصد يې بل دئ
نيتونـه شيطانـي دي په قولونـو کې توپير سته
معصـومـه ! ټول دفتر دي د دردونو مجموعه ده
رازونه، دي نيازونه دي، شعرونو کې توپير سته

======

ګلشن اقبال، کراچي - ۱۹۹۰م

(c) ketabton.com: The Digital Library



که لــه ګـل ســره همــراز و ، محــوه کړی تماشو وي
بلبل هلــه پــه چغـار ســي چــي لــه بڼـه آواره سي
د وصال په نشــه مستــه، پــرد ېسـی ته دي نظر دئ
سانحه نه وي نو څه وي، چي بېلتون د چا مېلمه سي
نې جوهر چاته معلوم وي، نې کمال وي رابــرسېــره
که له تېکي را بهر سوه، تــوره هــله رخشنــده سي
هيڅ يې مه باسه له خياله پر بيده احساس هم پام کړه
له ساړه نغري څه کله سرې سکروټــي را ښکاره ســي
د تبرې توري په شانــي غــوځــول کا ، پرېکول کا
هی توبه يې له ګــوزاره چــي قلــم د چـا وسله سي

======

کراچي - ۱۹۹۰ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بېخوندي

له ژوندونه مې وا نه خيست د خاشې خوند
ابادۍ کـوي يـــو مخ د هــديــرې خوند
هـوســونـه د وطـن چـې را پـه ياد سي
له حسرته څه ګنډېږ سي زما د خـولې خوند
تقاضا د ســن و ســال ده کــه څــه ټکه؟
اخيستای نه سم هيڅکلــه لـه مېلې خوند
د لذت حس يې ايستلی زما لـه خولې دئ؟
که دئ تللی له اوبــو څه د ټــهټــې خوند
د هجرت ژوند به ونـه شمېري په ژوند کي
چي يې څکلئ وي د خپلــې کاشانې خوند

======

ټهټه، کراچي ۱۹۹۰ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دومره نو ، نه

مال و زر يې کوترم کړي
سترګې هيڅ نه پـه مړيږي
حيران دومره اشتها ته
تناول هم حد لري
په روڼو سترګو يې ګورم
چي وطن مي سودا کيږي
د سکوت وار راځه تېر دئ
تحمل هم حد لري
په ښکاره د قام غمخور وي
په باطن کې ريښې کاږي
ډېر مي ځان کړلی ناګار، خو
تجاهل هم حد لري
نه پوهېږمه ناپوه دئ
که عندي ګټو روند کړي
کور دي وران سه آکور مغزه
تغافل هم حد لري
له پښتونه پيدا سوي
پښتنو شيدو لوی کړي
دا سپيتانه دي له کومه
تنزل هم حد لري
که افراط د شيطان کسب
تفريط هم هيڅ په کار نه دئ
منځلاري مي زړه لا شين کړ
تعادل هم حد لري

======

ګلشن اقبال، کراچي - ۱۹۹۰ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## موج

پرله څرخي پر له اوړي
سر وهي له غټو سخرو
ځان راباسي له طغيانه
واري خوري لکه د تورو
له ها ليري څه رادرومي
د ساحل پر لوري ناځي
د آرام ژوندون په تمه
تر خوله سپين ځګونه باسي
نه دريږي نه تم کيږي
په سکون کي وايي تلخي ده
بهاند سيند دي ور ښوولي
چي په تګ کي شيريني ده
نه په شپه له تګه ولوېږي
نه د ورځي پر کرار دئ
ني پروا له ساړه ژمي
نه د دوبي پر اهاړ دئ
تقدير بار ور په شا کړی
رسوي يې و مزله ته
تدبير لاره ور زده کړي
سم ځارو يې و هر پله ته
روڼ مثال دئ و انسان ته
عظيم درس دئ و بيده ته
پو ښهاري يې نغمه ده
شنوا يې ده و کاڼه ته
که لاهو موجود پر پيښږ سي
يا سېلاب راوړي ګرګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## رونې شپې

څغلوي يې پاسته رېګ ته
ژغوري ېغوري يې له مرګه
آفرين دې پر همت سي
نه سو سترې نه ستومانه
نې ارمان د ساحل پرېښود
نه له بخته سو پښېمانه
موجه زه لاهو انسان يم
څپې زه ورک لاروی يم
پر اوږه باندې مې واخله
اوس لا مړ نه يم ژوندی يم
که مې سترګې ترخو اوښکو
کړې کمزورې ړندې نه دي
که مې خپه ملګري نه کا
لا پتليس دي ريچې نه دي
که مې لېځي دي ببوا که
که حواس مې دي پرېشانه
خو نجات ته اميد ډېر سته
زړه مې تور نه دئ له ځانه
د ساحل و پاسته غېږ ته
رسوه مې لا ځواني سته
اوس لا هم د چارې سر دئ
لا مې زړه کې څه مستي سته

======

کراچي - ۱۹۹۰ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# را په یاد چې سې وطنه

چې په یاد مې سې وطنه
د نړۍ جنت ځُتنه
د ښایست و ښکلا کوره
د غیرت و ننګ مامنه
ته وا هله مې نیني کیږي
ته وا روح مې ځي له تنه
په ژوندون ته وا ښخېږم
مرم بې ګور و بې کفنه
چې د ښتو ، رغو ته ګورم
را په یاد دي سر درې سي
هغه دنګ دنګ او چت غرونه
له غاټول ډک ، له سمنه
چې ودانې مېنې وینم
را په یاد مې وران کورګی سي
زړه مې وا ېشي له جوشه
وایم، تف پر تا ، دښمنه
چې سمسوره اورشو وینم
ډک بهاند ځپاند رودونه
را په یاد مې ارغنداو سي
زړه سي تور له بل ګلشنه
چې توری پنجابۍ وینم
را په یادي پښتنې سي
مینه ناکې ، حیا ناکې
وربښمن لېځې سمین تنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کليوالو ته چې ګورم
را په ياد سي کوچۍ پېغلي
پر سرو يې ډک منګي وي
پر دښتو يې کړدۍ پلنه
څه ښايست دی خدای ورکړی
څه عفت يې وربخښلی
شاپېرۍ د کوه کاف ده
ورته پکه و پمنه
حورو حُسن دئ اخيستی
عاريت د دې له حسنه
د شبو ګلو وږمونه
منشعب يې له بدنه
آ د هست و نيست مالکه
را ودان مي وران وطن که
را يو موټی مي ملت که
لويه ربه، لوی ښتنه!
======
پنجاب اورګاډی - ۱۹۹۱ع

# رونې شپې

کـه د نـن چـاري د بخښلـو نـه دي
پرونــۍ هــم د هېـريــدلـو نه دي
وطنــه ! ودي مــرم دا څـه دروسوه !
چـي کنـډوالـې دي د کتلـو نـه دي
که د اغــزو پــر ســر حضـر دئ روان
پر د ېســي شپــې هــم د ګاللو نه دي
ښايستــې نـه يمـه خـواتـور له ميني
خــو ستا جفــاوي د سهلــو نه دي
ستــومــانــه نه يــم لـه مزلـونو څخه
مــګــر دا لاري د وهــلــو نـه دي
په زړګي تور اشنا شکمن سوې پر څه؟
زمــا ولـولــې د ازمــويلــو نه دي
اوښکي مي وچي سوې له ډېره ګـرومه
د زړه داغــونــه د ښــوولــو نـه دي
چينو د ستــرګــو جواب راکړ، وايي
دا دردانــې د تــويــولــو نــه دي
وسواسه پرې مي ږده مکوټ دي کړمه
زمــا تــوبــې د مــاتــولــو نــه دي

======

ټورنټو - کاناډا - ۱۹۹۴ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سخت زړو واکمني

د وطــن وطــن نارې دي له هــر کــونج لــه هر کناره
چې را ژغوره يــې ځنبتنــه له دې غــم له دې ناتاره
ډېرين زړونــه واکمن دي، عاطفــې چارماري سوي
کرامت د انسان خــرڅ سـو، شرافت ټــول له بازاره
عفتونه تر پښــو لاندي، عصمتــونه کنهګار سول
او به تللي دي له سترګو، ټول بې آبــه ســول آبداره
هيلو تور ټيکري پر سر کړل، د نجات لاري کوره دي
اميدونه ټول خزان دي، ښايست کوچ سو لـــه بهاره
ژړوي مـــې، ژړوي مـــې، ژړوي مـــې دا خبـــره
چې را پېښه له خپل وروره، له خپل زويه، لـه خپل پلاره
زمونږ په خولو کي اثر نسته، زمونږ خواستــونه نه قبلېږي
تې په خوله کرم راجوړ کړې، اې قادر پـــروردګاره

======

ټورنټو - کاناډا - ۱۹۹۴ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تاج اخندزاده

کنــــدهار کـــې یـــو عالـــم اخندزاده و
نکته سنجـــه، باریک بینـــه، دانسته و
د بـــې لارو بـــې لارۍ بـــه یـــې ځارلې
د بـــې دینـــو بـــې دینۍ بـه یې غندلې
و اولس تـــه یـــې ښوول ټـــول بدعتونه
پـــه نامـــه د شریعت کـــاږه کـــارونـــه
ذمیـــمـــه یـــې پـــه خنـدا چاتـه ښووله
پـــه ټکالـــو یـــې عیبـــونه لڅـــوله
هـــر بیـــان یـــې پـــه ظاهـــره ظرافت و
خو چـــې و بـــه دې شانه درس د عبرت و
د اســـلام پـــه حقیقت و پـــوهېـــدلی
پـــه منطـــق و پـــه برهان کې و غښتلی
ملتفت د خپـــل اولـــس و هـــر عمـــل ته
سم ځارو و د خپـــل ورور و کاږه پـل ته
د همعصرو د خولې ورد یې وجیزې دي
رسېـدلـــې یـــې تـــر ما لا هم مـزې دي
ده بـــه وې د انسانانو فـــرق پـــه دا ، سې
یو کافـــر دئ بل مسلم بل موږ او تاسې
وای[12] یو وخت ورځخه وکړه چا پـــوښتنه
چـــې اخونده ! ورک یـــم لاره لټـــومـه
د عبـــرت خبـــرې کـــړې دې تا ډېـــرې
لټـــوم بـــه مسلمان و اســـلام چیـــرې؟
په حســـرت یـــې ورتـــه ورکړ دا جواب
عالـــم (تاج اخنـــدزاده ) عالـــې جناب

---

[12] وای = وایي (د کندهار لهجه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(که اسلام غواړې خوندي په کتابو کې
مسلمان کــه لټــوې گــرزه قبرو کې)
کــه ژونــدی وای نن ورځ تاج اخندزاده
څه بې حکــم وای دا زمــوږ پــر سرښته
چې د دین په نامه چور کــوو غارت کړو
د اسلام پــه نـوم د قتـل مصلحت کــړو
د وروری پــه نــوم مـو واچول درزونه
د چوکۍ په حب مـو وران کـړله ښارونه
د جهــاد پــه نـوم مـو وجنگول ورونه
د تقــوی پــه نوم مو لوټ کړل اولسونه
نفـرتـونه زېــږوو پــه پاکــو زړو کې
دښمنــۍ را پاڅــوو ځـوانو زړو کې
حســدونـه شنه کوو په کـرونـدو کې
د تبعیض پارو پــر پاشــو په ښلچو کې
خندوو نــړۍ پــر خپــل دیــن و مذهب
نــه اخلاق نــه مــو نېکــي سته نه ادب

======

اوکویل - کاناډا - ۱۹۹۲ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مدني وحشت

ما تمدن په تصور کې و ګڼلی بل شان
يوه هوسا ټولنه
يوه سالمه فضا
يو د ورورۍ چاپېريال
د کار و کسب دنيا
يو آبرومنده ژوندون
د ماديا تو له غوغاوو څخه پاکه اورشو
ما تمدن بللی
======
ما تمدن بللی
چې پکښې حُسن د بازار د سواګرو په لاس
يوه متاع د خرڅولو نه وي
چې د حياوو په پردو کې سينګار سوې ښکلې
د ښايستونو په سيالۍ کې تر چا پاته نه وي
عفت يې حُسن، عفت ناز، عفت مکيز و خندا
او بس همدا مې وه ګڼلې مدني فرشته
او بس همدا مې و بللی انساني تمدن
======
خو، چې اوس ګورمه د پېغلو مرمرين ورنونه
د نو رسانو له جنونه ډکه تنډې سينې
د نابالغو نسپړلو سرو غوټيو پاڼې
د منفعت په نامه
د تجارت له پاره
پر بازارو لوڅېږي
په خو تنګو خرڅېږي
نه خوک توبې پر کاږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه څوک لاحول وايي
يوازې زه يم چي خولې سم سر تر نوکه پوري
د تودو اوښکو سېلابونه مي تر زنه تېر سي
توى سي گرېوان ته
او د زړه سر مي مکوټ مکوټ کړي
په حسرت (اوه) له خولې څه وباسمه
د خپل ضمير د محکمې په ازانگن تالار کي
څو غټې کرږې وکړم
آخر، دا څه کانه مي وکړه په ځان
سپين پښتني ژوندون مي څله کړی اليش په جنون
په مدني لېونتوب
په داسي ژواک
چي د ځنگلونو وحشتونه به پر ستر گو کښېږدي
ځناوران به درته ښکاري د عزت نمونې
خو ستا به هيڅ له وسه نه وي پوره
======
افسوس افسوس چي په هيڅ راز مي غمگی نه سرېږي
نو گلومه به يې
تر هغه وخته پوري
چي د نجات د قاصدانو راته پام سي آخر
چي په ترلې تنې
د مدني وحشت له بنده څخه خوشي سمه
د خپل هيواد پر مقدسه خاوره
د خپل مامن پر مځکه
د شکرانې له پاره
دا خپل تندی پر خاورو ولگوم
======
اوکويل - کاناډا - ۱۹۹۲ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کابل ناورین

هغه ناورین چي پر کابلــو تیـــرېږي
د دوی پر تن زمـــوږ پــر زړو تېرېږي
د زمانې هـــم سپین پــر تــور راغلي
پر ککــریـــو د ســـرو تېـــرېـــږي
د ځوانۍ شپه مي په خــوبــو تېرېده
نن د بېلتـــون پــر شــوګیــرو تېرېږي
ته وا اقلیـــم د دنیـــا واوښتــلــئ
د ګــرمـــۍ فصل پـــه یخــو تېرېږي
د پسرلـــي شپـــې اهاړینـــي سولې
ساړه د ژمـــي پـــه پکو تېـــرېــږي
نه مي لوریـــږي پر دښمن په خدا یږو
ژوندون چي سخت پر پښتنو تېرېږي
کـــه مـــي رشتیا د زړه خبره غواړې
اور په ها ژواک چي بې پښتو تېرېږي
پر هیـــواد میشت اشنا شکرونه کاږه
د بېلتون زور زموږ تر هــډو تېرېږي
د مرګ قاصد ســـو ماښیجن راځخه
چي پر ما راسي پــــر ګوښو تېرېږي
د امید حســـه لــږ مـــي وتـخنــوه
حوادث زښته بــې مـــزو تېـــرېـــږي
معصـــوم یـــې بله چاره نه کړه پیدا
د بېلتانـــه غم پـــه شعــرو تېرېږي

======

اوکویل - کاناډا - ۱۹۹۲ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د الفت پر پله

د لیلا زړه مجنــونــه مــه ماتــوه
د پښتــو نــرخ پښتــونه مه ماتوه
که په رګو کې دې ننګــونه غورځي
خولــه ماتــوه قــولــونه مه ماتوه
که وا ، امیــد د تسلــۍ مــه کوئ
دومره خو کړه چې زړونه مــه ماتوه
د غزنوي رسمک لــه ما څه پوښته
بت ماتــوه رســمــونــه مــه ماتوه
آ د خامــوشــو هــدیــرو سلطانه
عیش دربخښم تخنــونه مه ماتوه
مغزي ماتېږي خو قام نـــه ماتېږي
جلاده ! خپـل تېغــونــه مــه ماتوه
منم مزلــونــه مــو اوږده په مخکې
هلــه درجار ، ګامــونـــه مه ماتوه
پر بـې مالیاره باغ لـــږ زړه وسوځه
ګلان شکــوه ښاخــونـــه مه ماتوه
غمو کړه هېـــره لــه پستو څه خندا
هــراتــه ! نورشولــونــه مه ماتوه
له خپله تولهبې[13] لــه خــدایه غواړو
د بل پـــرداد ســرونه مــه ماتــوه
وا د قدرت جنون مې نه پرېږدي نور
سیالــي کــوه هــډونه مـــه ماتوه
یاد به دې وي چې الفت څــه ویلي؟
(سر مې وهه خیالـــونه مه ماتــوه)

======

اکویل - کاناډا - ۱۹۹۲ع

[13] بې = به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند خزان وهلی بهارونه ليري پاته دي
شپې د پرښسې دي سهارونه ليري پاته دي
نې[14] په تصور نه يې په خيال نزدې کولای سم
غرونه مو ترمنځ دي يادګارونه ليري پاته دي
زما د خيال بلبل چې به کړی ورځ و نغمه نغمه
نن سو رانجه خوره چغارونه ليري پاته دي
يو مخ نامردي ده نارينتوب کوچ له وطنه سو
خدايږو د مېړاني کردارونه ليري پاته دي
خوږ مي د زړګي وايي طبيب کمښت د وينو دئ
زې[15] په سبب پوه يم انارونه ليري پاته دي
ويارړ دئ د هغو چي د وطن د ليلا غېږ کي دي
سخ زما پر حال کند هارونه ليري پاته دي

======

اوکويل - کاناډا - ۱۹۹۲ع

14 نې = نه يې
15 زې = زه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بد عواقب

کــــه ملت ســــره تــوتــــې سو آفتونــــه به پر اوري
د ډبــــرو و د کاڼـــــو بارانــــــونه بــــه پـــر اوري
نېکمرغۍ به ځيني بار سي بد مرغۍ به ورته چوک وي
پـــرې نازلـــې بـــه بلاوي، فسادونـــه بـــه پر اوري
مرضونه به په ګډ ســـې وچکالۍ بــې[16] کال په کال وي
پر حاصل بې وســـې کېـــږي، سېلابونـــه به پر اوري
ورتـــه وچ به ډک درياب ســــې سمې لاري ګړنګـــونه
هـــره تالنـــده بـــې ټـــکه، تنـــدرونـــه به پـــر اوري
ظالمان بـــې حاکمـــان سې هر يو ښار بې پېښور وي
کور بې ګور سي لا د پاســـــه، سره اورونه به پر اوري[17]
لوی قامونه به يې تپ ســـې شـــو په شـــو بې اولسونه
کور په کور به يې بـــدی وي، تاړاکـــونـــه به پر اوري
ورور له وروره بـــه خفـــه وي، پلار بې قدر وي بايللی
کورنــــۍ بـــې تباه کېـــږي، نفاقـــونـــه به پـــر اوري
نازولـــې بـــه يـــې ژاړي، ايمنېدو ته بې څوک نه وي
بـــې علاجـــه بـــې درملـــه پـــرهارونـــه به پر اوري
مـــرور بـــه يـــې بختـــونـــه، طالعګانې ماڼيجنې
اســـې بخت بـــه يـــې مېلمه وي شامتونه به پر اوري
هم به خدای ځنې ناراض وي هـــم بـــې مخ تور و نړۍ ته
د رحمت بـــه ورتـــه شا وي، لعنتـــونه بـــه پر اوري
دغـــه حال چـــې مـــې بيان کړ پر افغـان دئ نن راغلی
خدايه ته يې سې پر زېـــرمه دا ملت کـــړې بيا ښاغلی

======

اکويل - کاناډا - ۱۹۹۲ع

[16] (بې) په دې نظم کې هر ځای د (به يې) مخفف توری دی.
[17] په دې بيت کې د رحمان بابا يو بيت له تصرف سره تضمين سوی دئ:
پـــه ســـبب د ظالمانـــو حاکمانـــو
کور و ګور و پېښور درې واړه يو دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د استاد هڅونه

استاد مي له کابله نوشتو ته هڅوي
مرغۍ په مات وزر و الوتو ته هڅوي
خبر نه یم زما په تور تندي کې څه لیدلي
چي مات زړه مي و لویو کارنامو ته هڅوي
که هر څو را خبر چي پرېسۍ یم سخت ځپلی
بیا هم مي توږۍ ژبه ګرېدو ته هڅوي
د لیک په هره کرښه کې فیضونه راته خاندي
د شعر هره مصرع مي ترانو ته هڅوي
د هیلو قافله مي له سکون څخه راباسي
پر لوري د سبا یې خوځېدو ته هڅوي
یوسف د امیدونو مي د یاس له څاهه کاږي
ټولۍ د ارزوګانو کنعانو ته هڅوي
ښاخونه د لاښ بڼ مي نه پرېږدي و وچېدو ته
غوټۍ د قریحو مي غوړېدو ته هڅوي
پر ما د نامېندیو پېڅول دئ غوړېدلی
حسوده زمانه مي چوپېدو ته هڅوي
زما زړه د ببلتانه غمونو هسي لاندي کړی
چي یو مخ مي له ژونده هدیرو ته هڅوي
خولې سم له خجلته چي کردې د افغان ګورم
چي ورور د ورور د کور خرابېدو ته هڅوي
ارمان کړم پر هغه چي مي ننګونه ور ستایله
نن ټول خپل اردلیان و لوټېدو ته هڅوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څرنګه جادو دئ دا کوږداګي څه په وکړي؟
مصلحـــي ارادې چـــي و جګـــــړو ته هڅوي
پر ما توره تیاره ده سهـــار لیري شپـــه یلـــدا ده
استاد مـــي د سپېدو و چاودېـــدو ته هڅوي[18]
نو ګاله یـــې پـــه مېړانه د بېلتون درانه غمونه
معصـــومه چـي (رشـــاد ) دي آیندو ته هڅوي

======

اوکویل - کاناډا - ۱۹۹۲ع

[18] زما محترم استاد پوهاند رشاد صاحب له کابله یو لیک ټورنټو کاناډا ته رالېږلی و او په هغه کي یې زه لیکنو ته هڅولی وم دا شعر د لیک د رارسېدلو په شپه وویل سو . دا شعر مي په هالینډ کي د استاد د اتیایمي کالیزي د نماځلو په غونډه کي هم ولوست . (هوتک )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې جرمه مجرم

هلته د دنيا د بام پر سر په لوړو غرونو کي
دلته د تهن جهان په کليو و ښارونو کي
هلته په کړديو کي خپاره په سرو دښتونو کي
دلته په ماڼيو کي ميشته خو کړاوونو کي
اوسي يو اولس چي تيک يې غاړه، ملا يې خمه ده
پاکه يې سينه له هر راز دروهه له هر چمه ده

======

خوار دي پيدا سوي خو جګ سر باندي مړ سوی دئ
نه چا ته ټيټ سوی نه په ننګ چا ته پړ سوی دئ
نور يې رسولي دي تختونو ته، تاجونو ته
دی ورته سپر سوی دئ په وينو ککړ سوی دئ
نن د بې دردانو له ستمه کلک وارونه خوري
نن د تورتمونو په مزله کي تيندکونه خوري

======

چا يې د تاريخ مسخه کولو ته دانګلي دي
څوک وايي نوم بدي دي چي دوی و ته ښاغلي دي
څوک يې پر وياړونو نوم نښان باندي ناګاره دي
ځيني وای دا څوک دي؟ له کوم بل ملکه راغلي دي
ټولو يوه کړي ده سلا و دې مجنون لره
حد د ښمنۍ يې رسولی دئ جنون لره

======

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه يې ده ګناه؟ څــه يې تعــدی ده څه يې کړي دي؟
څه له مــو زړه ډک دئ پــه څــه عيب مو کړلي دي؟
دا کــه يــې ګناه وي چي يې ميندو خپله غېږه کي
لــوی - لــوی اتلان و د ســـر خلک يې روزلي دي

جار تر داسي ميندو چي غيرت يې په شيدو کي وي
جار تـــر داسي قــــوم چي همت يې په سينو کي وي
======
جار تر داسي هيلـــو چـــي قومــونه يو کولای سي
جار تر داسي متــو چـــي سرکښ را ايلــولای سي
جار تـــر دا اولس چـــي ببلـــه تمــي و اسري څخه
وينـــي تــويــوي خـــو تاريخــونه سازولای سي
نــورو تـــه مانـــی، ګټـــي پخپله په کړديو خوښ
ننګ يې په سياليو خوښ، شــرنګ يې په سياليو خوښ
======
اوکويل - کاناډا - ۱۹۹۲ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښو ته ښه وايه که زما وي او که ستا وي
بد دي ورک سي پر دنيا که د هر چا وي

د دوستۍ هيله له دوسته څخه کېږي
دښمنۍ کې اچولې اعدا وي

هوښياران وايي ځوانمرد که دي دښمن وو
پر نامرده دوست به سل برخې بالا وي

عاقبت به يې ګولۍ تر زړه وخېژي
د توپک په زور که هر څوک خانتما وي

د هغه سردار به ځای د دار پر سر وي
چي په سر کې[19] د ملت پر سر سودا وي

په سکروټو يې ور داغي دواړه پښې کړئ
چي و ډول ته د پرديو په نڅا وي

چي په زور د بېګانه وو پادشاهي کا
د هغوی تخت به نسکور نن يا سبا وي

شا دې[20] نه رسي و مځکې ته هيڅکله
د ملت د کامرانۍ بار چې پر شا وي

يو سرونه غوځوي بل سرښندل کا
د رهزن و د رهبر فرق په همدا وي

و مطلب ته هم هغه طالب رسېږي
چي طلب يې په راستۍ و په صفا وي

[19] کې = کي يې
[20] دې = دي يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا رنځــــور اولس پــه بل څـه نه رغېږي
د وحــــدت نسخــه بې[21] رنځ لـــره دوا وي
دا وطـــن به بـــې تاجکه ځوک جگ نه کا
بــې پښتونه به بیا پښت پر پښت تالا وي
هـــزاره ته چــــې د ورور په څېر نه گوري
تر هغـــه بـــه بل هـــرزه فکـــر د چا وي
د ملت چپـــه ببېـــړۍ هلـــــه سمبـــږي
چـــې د ملک تـــول اولسـونه همنوا وي
======
اوکویل - کاناډا - ۱۹۹۲ع

[21] بې = به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا اِلهِـــي مــه راوینــې تجـــزیـــه د ګران وطن
د یووالـــي دښمنـــان کړې خوار خسته د ګران وطن
سور شمال دئ خښمېـــدلی تـور بادونه دي چلیږي
رژوي د وحــــدت پــانـــي و مېـــوه د ګران وطن
ښه يې وینم چي وچیږي د وحــدت ځپـاند سیندونه
ښېره سته چي سرچینـــه یـــې سي کوره د ګران وطن
د هیواد دښمنان یو سول شیطانـــي دامونې[22] سر کړل
کرښی کاږي پر ښایسته ښکلـــي ځېره د ګران وطن
جنګ د ژبـــي یې جاري کـــړ جنګوي سکني ورونه
ژونـــدی نه پرېـــږدي هیڅکله دانسته د ګران وطن
تحمل یې ورته ګران سو چي افغان سردي او چت وي
انتقــام راخخـــه اخلـــي روسیـــه د ګران وطن
د حکمت هیله تري مه کړئ سعادت مه ځنـي غواړئ
که د رب پـــر لاري نـــه تلـــی سرغنه د ګران وطن
دښمنـــانـــو تـــوره تبـــه ګــډه کړې لور پر لور ده
په دوست هم هیڅ وچه نه ســـوله خوله د ګران وطن
دا قومونــه اولسونـــه د یـــوې باغچې ګلان دي
په خزان یې مړاوې مــه کړې ګلدسته د ګران وطن
بهارونه دي تازه وي د وحـــــدت نغمې دي سُر وي
اولســـونه دي راغونډ وي پر جـــرګه د ګران وطن
چي شملـــې د افغانانـــو پکښې جګې جګې وینم
دا ارمان مـــې کړې اې خدایـــه را پوره د ګران وطن

======

اوکویل - کاناډا - ۱۹۹۲ع

[22] دامونې = دامونه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تالا هوسونه

خود به خاوري بادومه نامحرم چې مخ د يار سو
خود به اوښکي تويومه سکنی ورور چي اغيار سو
د کلونو اميدونه هوسونو را تالا کړل
ناميندۍ مو مېلمنې سوې د مرګي ستر خوان هوار سو
کوره کيږي د تلو لاري نسکوريږي زاړه پلونه
ښه مې ولوېده و زړه ته راڅه پاته کندهار سو
نوم يې تاسي باندي کښې.دئ پر ګلشن مو څه تېرېږي
چي ګلونه مو اغزي سول چي خزان مو نو بهار سو
رارسېږئ نازور دارو د اجل قاصدان راغلل
د پښتون جنازه وزي د پښتو قبر تيار سو
شوا خون و ناورينونه بربادۍ دي و مرګونه
ته به وايې چي دا ملک بس و همدې لره تيار سو
ځومره سخت ازمويښتونه مخامخ دي و افغان ته
وطن ده ته بلا سوی، دی وطن لره تور مار سو
دا به هم د رب حکمت و چي افغان په تورو تور سو
دا به هم د رب رضا وه چي تر خوارو لا هم خوار سو
و علت تې نه ورلوېږم سد مي هيڅ نه په رسېږي
په دې دومره رهبرانو پښتون ولي بې سالار سو
تر هغه به ساده ځوک وي چي شاکي وي له پردو څه
رارسېږي له خپل لاسه چي نن (ترخه و واکدار سو)[23]
شرمنده سولو تر سياله ستر ګي نه لرو نړۍ ته
ورور د ورور مرګي ته تږی زوی له پلار څخه بېزار سو
سرنوشت د انسان دا دئ چي ماتم به يې مېلمه وي
و دنيا ته يې راتګ له لويه سره په کوکار سو
ناميندۍ و بيوزلۍ د وطنوالو ته چي ګوري
په زړا په غلبلو کي پر معصوم باندي سهار سو

======

۱۹۹۲ع

---

[23] (ترخه و پاچا ) يوه اولسي وراشه ده چي دلته له تصرف سره تضمين سوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# روڼې شپې

د وطــــن په یاد تیارې شپـــې روڼومه
د شعرونـــو ډیـــوې ځان تـــه بلـومه
شپه تیاره ده، تیاره کړکه ده نفرت دئ
د روڼا پــــه امیــــدو یــــې تېـــرومـه

======

چــې اوږده شپـــه وي، توره تیاره وي
غـــم د هجـــران وي د بېلتــانـــه وي
وطـــن رنځـور وي، طبیب دښمن وي
معصـــوم بـــه ولـــې پـــه ژړا نه وي

======

پـــه ورځ بیـــده یم، د شپې پر کار یم
نه چـــې حریص یم، نه ډېر پر کار یم
د زمان څـــرخ دئ چپـــه څـــرخېږي
ورســــــره څـــرخم، تـــه وا پرکار یم

======

اوکویل - کاناډا - ۱۹۹۲ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ارمانجني چيغې

سوځم پــه لمــبو د بېلتــانــه پــه پردېسۍ کې
ورځ و شپــه ســي تيــره په ماتــم په مايوسۍ کې
نه لــــرمه ځــــورې د سفــــر تــــروس مي تېره ده
کلــــه ســــي کېــــداې حــج و عمــره په مفلسۍ کې
نــه وزي لــه زړه څخــه د ابا د مېنــــې مينــــه مي
ســـر تــــر نــــوکه بنــد يم د وطن د عشق رسۍ کې
قدر د انسان خو په خپل کور په خپل نغري کې وي
څــومــره ساده ګان چــې لټوي يې په کرسۍ کې
نه ســـم تېتېـــولاې پښتنــې مغـــزي پـــرديو ته
هر څو که يې وينم چي چرچـــې دي چاپلوسۍ کې
مه کړئ د پتمن ژوند تمه مــه کړئ په دې خاوره کې
تو منــه د مايـــې يې ده اخښلــې دووســـۍ کې
نسته د پردېس معصوم په زړه کې بل ارمان په ژوند
کښېني چي يو وار بيا د خپل سپين سراې په اورسۍ کې

======

اوکويل - کاناډا - ۱۹۹۷ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ارمانجني هيلي

پر مغز مې جوپې جوپې خيالونه وي راځي
پر زړه باندې مې زښته ارمانونه وي راځي
دا خوب دئ او که خيال دئ که پر زړه مي الهامونه
و کور ته مې ځولۍ ځولۍ ګلونه وي راځي
د يار د کوځې خيال وي په پايېږم تل تر تله
د رنځ مې مسيحا وي علاجونه وي راځي
وصال وي د يار غېږ وي مرکې د ياراني وي
د زلفو له وطنه مې وږمونه وي راځي
سيالۍ وي د مېړانې د همت مسابقې وي
ميدان ته د غيرت خيالې ډولونه وي راځي
هی هی وي د ځوانانو اتڼونه وي خوښۍ وي
نفرت پا يکوبه کېږي عشرتونه وي راځي
له جهل و ناپوهۍ سره غزاوي جهادونه
له سوبې و نصرت سره توغونه وي راځي
سوبمن زلمي را درومي ناميندۍ په سانګو نجتي
پر زړو د دښمنانو حسرتونه وي راځي
لرګي يې وي پر کډو اچولي بد مرغيو[24]
له ساندو ځخه خلاص کلي کورونو وي راځي
ختمېږي اهاړونه ايره کيږي نفاقونه
نغريو ته د مينې مجمرونه وي راځي
د هيلو کاروانونه وي رسېږي و مزلو ته
له ليري شرنګاشرنګ وي جرسونه وي راځي
پردېسي پرګنې وي راستنېږي خپل کورګي ته

[24] (لرګی پر کډه اچول) د (بارېدلو) په معنا يوه اولسي وراشه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــر وچــو شونــډو ناست تبسمــــونه وي راځي
رويبار پــــر لارويــــو د رحمت عطــــرونه پاشي
و ښکلــو تــه ډک ګلاب جامــونه وي راځي
د پېغلــو پــدل مات وي واهمـــې له زړو وتلي
ګــودر تـــه د منګيـــو کتــارونـــه وي راځي
د پاس شمال را سم سي سره ماتي کـړي وريځـي
پـــر څنـــډه د آسمان بــوډۍ ټالـــونه وي راځي
تياري خورې ورې سي د ظلمت پــردې سي پورته
د لمر ستـــرګـــه ښکاره ســي سهارونه وي راځي
تودوخـــه ســـي برلاسې منجمد زړونه اوبه سي
لښتـــي لـــه محبتــه ډک مــوجـــونه وي راځي
خړوب سي وچ دښتونه زرغونې سي وچـي درګي
خزان کـــوچ ســـي لـــه ملکـه بهارونه وي راځي
حسرت توري[25] واخلي غم انــــدوه ورسره مله وي
عشرت يې پر ځای ميشت سي نعمتونه وي راځي
جــرګـــې تـــه راروانـــي وي ټولی د اولسونو
لـــه هــر لــوري د ســـولي پيغامونه وي راځي
غـــوږو تـــه مـي راځي له هري خولې پخې خبري
پــــر ژبــو لـــه يــوه مخـــه پندونـه وي راځي
ستومان خاطر مي کښېني د رحمت تر چنار لاندي
لـــه هسکـــه د رجاوو شمــالــونـــه وي راځي
رښتيا مي درڅه غوښتــی دئ خالقه خوب که خيال دئ
پـــر ژبـــه د معصـــــوم چـي ارمانـونه وي راځي

======

اوکويل – کاناډا – ۱۹۹۷ع

[25] توري : د (ژوري) پر وزن

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په روڼو سترګو

ولــــي مــــي پــــرې کېږي د وجود په رڼو سترګو
شلېـــږي تانستـــه د تـار و پـود په رڼو سترګو
وزي مــــو لــــه ببخــــه د حسب و د نسب رېښې
پــــوه نــــه يــو د ځان په بود نابود په رڼو سترګو
خېژي مو له خولې ښخه غړانګې د بارکښ بوده
زمــــوږ خيال چې نغمه ده د داؤد په رڼو سترګو
مه کـــوئ پلمې په لوی لاس وزر له محفل ښخه
ســـم د م ورانـــو حـــد و حدود په رڼو سترګو
اور د محبت بــويـه که تود غواړئ د پلار نغرى
مه شوږوئ سترګــــي په تور دود په رڼو سترګو
زه به د خليل لاره پــــرې نــــه ږدم څو ژوندى يمه
خير که مي رقيب بولي نمـــرود پـــه رڼو سترګو

======

اوکویل - کاناډا - ۱۹۹۷ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مزار شريف د فتحې په مناسبت[26]

زېرى زېرى هيوادوالو وطن بيا يو موټې کيږي
دا ګشن بيا زرغونيږي د اميد غوټۍ غوړيږي
اولسو لاسونه ورکړل د واحد وطن په هيله
د ميرويس پر کور جرګه ده افغانان رابلل کېږي
لوټماران د هست و بود مو کوږ مغزي له ملکه وزي
سوداګر د خپلواکۍ مو په شرمو سره شرمېږي
سرې فتنې د يرغلګرو سوې رسوا په ګران وطن کې
د روسي تاړاک خپسکه مو له زړونو ولاړيږي
دا د جهل و ځان غوښتې په لمبو سوي ښارونه
د وحدت په اوبو ختمو له تاداوه ودانيږي
پر تتۍ لوېدلي هيلي سمباليږي درېدو ته
وزرماتي ارزوګاني الوتو ته تياريږي
ژړېدلي اميدونه جوړوي ځان و خندا ته
مروري طالع ګاني بيا له سره پخلا کېږي
د نفاق د کڅوک ټپلي د وطن له ښکلي مخه
د يووالي په مرهم به له يوه مخه پاکېږي
ښناني د مايوسيو محوه کېږي له څېرو څخه
قافلې د نامينديو له کورو څخه بارېږي
دا په ټونګ د بېګانه وو مات مغزي و پرې هڅونه

---

[26] دا شعر هغه وخت وويل سو چي د مزار شريف ښار د طالبانو له خوا د جنرال ملک په همکارۍ ونيول سو او د (ملت بابا ) په ګډون د هيواد د تماميت د بشپړتيا ټولو پلويانو د دې سوبې هرکلى وکړ، خو له بده مرغه څو ورځي وروسته څرګنده سوه چي دا پېښه د هيواد د ښمنانو ګډه دسيسه وه چي د څلورو زرو بېګناه انسانو د ژوند په بيه تمامه سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امید ډېر ستهو پاک رب ته چي بـه بیا راپټلسېږي
د کلـــونـــو کـــړېـــدلـــي ځـــورېـدلي اولسونه
لـــه شمالـــه تر جنـوبه غیږ په غیږ ورځي مسیږي
مصممـــي ارادې دي اېلـــوي بـــد مغـــز خیالونه
ککـــرۍ د ســـرکښانـــو د توحید پښو ته ټیټېږي
نظر مه کـــړې پاکـــه ربـــه دا بګړۍ دا دسمالونه
له عظمتـــه ډک رنګـــونـــه د پلـــرو راپه یادېږي
میندي مه کړې باندي بوري چي راوړي دا اولادونه
خویندي مـــه کړې باندي وراري دا ځوانۍ دي نه رژېږي
پر تیک فال بانـــدي يې نیسئ د وحدت دا خوځښتونه
د سمسور کال نښانې خو له پسرلي څخه ښکارېږي
اورېدلي مي له نیکانو چي سهار وخت د قبول دئ
باري زبه تاته ژاړم لـــوی سهـــار بلبل چیغېـــږي
بل درد نه لرم په زړه کي تر ایمان وروسته وطن دئ
ته حامي د دې ملت سې د اغـــزو پـــر ســـر تېرېږي

======

اوکویل – کاناډا – ۱۹۹۷ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کنګل خيالونه

يو مخ سکون دی چوپه چوپتيا ده
نه د مچ بوڼ سته نه شور غوغا ده
تياره خپره ده، د ژمي شپه ده
سپوږمۍ خپه ده نرۍ تې شا ده
خلک بيده دي ته به وا مړه دي
يو زه ويښ ناست يم شعر مشغولا ده
اسمان وريځ دئ ستوري نهام دي
مځکه کنګل ده تنا برېښنا ده
ناست يمه دلته زړه مي وطن کي
په غم يې زانګم مل مي ژړا ده
پر وطن اور دئ سکروټې اوري
د ژوندون بيه مفته وړيا ده
رحم هيڅ نسته وروري ده ورکه
عاطفه مړه سوه نن يې پاتا ده
مسخه دي زړونه د انسانانو
جنګ پر غله دئ هدف دنيا ده
يوه خبره مي پر خوله راغله
تريخ حقيقت دئ رشتيا وينا ده
پر ملت ټولو سوټې را کښلي
د سپو فقير ته يوه سلا ده

======

اوکويل - کاناډا - ۱۹۹۷ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فتنه

لوی فتنه ګر راتـــه فتنه د دښمنــــۍ جوړه کړه
ما د پــــرون قــــد سازاوه ده ننني جــــوړه کړه
ما ویل جـــوړ کـــه و جانان تـــه د سرو زرو امېل
ده خـــدای ناترسه د سکــروټو ګردنۍ جوړه کړه
ما د کهـــاله مشـــر بالـــه واک مې د ځان ورکړلی
ده زما له ګرالبو و خپل ځان ته امیانۍ جوړه کړه
زما د خیالونو تاج محل ته مو پام ستـــه نیازمنو
له سپین صدفه یې د خاورو کوټنــــۍ جوړه کړه
لومه یې ســـر کـــړه د تزویر زما د ښکېل له پاره
په سیاست ونه ســــوه، نـــور یې ژبنۍ جوړه کړه
راخخه ورکه یې کـــړ د پلار و د نیـــکه وطن مي
له مـــوقتـــي ملکه یــــې مینه مورنۍ جوړه کړه
وې درولـــــې ځانته دنګې دنګې ښکلې مانۍ
و خوار ملت تـــــه یې جونګړه مونانۍ جوړه کړه
د غوا و غیلو د ګلـــو و د رمـــو شپـــونــــکیه
هوس د تخت دې کړ جګړه دې کورنۍ جوړه کړه
سمدم یې وینمه د زهرو او ګنــــدېـــــرو څُم دئ
دا چې په خپل خیال یې ګنیوته ګانۍ جوړه کړه
پر څه بې مهرو محبتـــه تېـــر پېښ یـــــم خلکـــو
چې له میرې یې راته نن مور سکنۍ جـــوړه کـــړه
د زړه زخمونه مې په اوښکو نمکینو مینــــځـــي
ناپوه طبیب وایي نسخه مې یونانۍ جـــوړه کـــړه
ته وا چنبلي یې پـــه تـــولـــو لېـــونۍ اوبه دي
چې لار و لیکه یې د ژوند هم لېونــــۍ جوړه کـــړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قيامت معلوم سو اسرافيل دي نور شپېلۍ نه وهي
د عرصات ميدان يې مځکـه افغانۍ جوړه کړه
د رونو شپو ستړي ستومانه شاعر خپل بياض ته
د وينو اوښکو له ترکيبه مشوانۍ جوړه کړه
پر وېشگر دېغ سو چي معصوم که دئ ماشوم خو نه دئ
وې لــه ازلــه يــې د ده برخه کوچنۍ جوړه کړه

======

جمعه ۱۳/فبروري/۱۹۹۸ع کال/ د سهار ۴:۳۰ بجې
اوکويل - کاناډا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خولګۍ ټکور

نه سر د ټېټېدو لرم نه ژبه د زاريو
جنون ټکورومه په اورونو د خولګيو
يو ښکلو ته تسليم يم بل عشوې ته د خوبانو
ځواني رارېغوم لښکرو همه د پيريو
شبابه توره ډال سمبال وه بيداره اوسه
زړښت نغم کيندي وقلمرو ته د ځوانيو
سباځم اجاره د ګلاب پاڼو ټوله اخلم
سرې اوښکي د شبنم پيوندوم په خوشاليو
غالبه باندي مينه د ليلا چي مچول ئې
کنه مجنون وپوه چي خولې مرداري دي د سپيو
قصور مي دئ د ختې چي په مينه کي يم پاته
غرور دئ په ميراث راپاته سوی د پېرېو
تيارې دي ترورمې دي تېرې تيرې دي پښې لوځي
قدم ږدم پرسکرو ټولا رو همه پراغزيو
محتاجه، سرګردانه، لالهانده ،ورې ترې
نه لاس د مرستې سته ،نه اراده د مرستنديو
داړوراته نيولې دئ کمين په لويه لارکي
پرهرګام واهمې دي راته پټې د غديو
نېستې دي ، بې ارزې دي، ديدنې دي، نامېندې دي
پرسر راسره د رومي لکه چتر د ژليو
سينه مي کوه قاف ده حوادث پکښې ورکيږي
لمن کي مي اوسېږي پرګنې د شاپېريو
ډېوې به سي بلې د ماضي په مستقبل کي
که پاک خدای وژغورلم له فتنو څه د پرديو

======

اوکويل -کاناډا- ۱۹۹۸ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مېنې مینه

پرون یوې مېرمنې د اوکویل[27] راته ژړل
رازونه یې د زړه په ډېر حسرت بیانول
ویله یې (چې زړه دې خوړل کېږي خپل وطن ته
په سترګو کې دې ښکاري، ارمانجن یې خپل ګلشن ته
زه هم مقدراتو راوستلی یم دې ځای ته
ډولۍ د سرنوشت کې یې راوړې حرمسرای ته
واده مې نتیجه وه د اوږدې اورنۍ مینې
د بلې مینې ځای نسته په زړه کې خدای مې وینې
هیڅ راز مشکل و ستونزه نه لرمه په ژوندون کې
پر کار باندې ولاړه، وظیفه مې په روغتون کې
پر کور باندې مې ناست دئ مرغ د ښو و د ښادیو
مفهوم نه پېژني زموږ کورنۍ د نامیندیو
په لونو په زامنو په لمسیو یمه پنه
بې عیش و بې عشرته نه لرم بله ورهنه
که ناز دئ که نعمت دئ شپه و ورځ راباندې اوري
شمال د نېکمرغیو راځه نښلي له هر لوري
اوریځې د طالع مې سم پر سر راسره دړومي
باران د سعادت زر و زېور راباندې لوني
په ژوند دې خدای راضي سي یم له سیاله سره سمه
په تن روغه رمته، په قد یمه سمه دمه
خو مینه د خالپوخو نه هېرېږي له انسانه
شکونه د اړیکو یې هر ګوره ډېره ګرانه

[27] اوکویل (Oakville) د ټورنټو په لویدیځ کې یو کوچنوټی ښار دئ چې وګړي یې زیاتره انګلیسي الاصله دي خو پرتګالیان، ایټالویان او نو اروپاییالاصله کاناډایان هم پکښې اوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلتـــون نــه دئ، پـــوهېـــږمـــه ژوري دي رګو ته
زېبښـــــي د وجـــود وينـــي لــــړزه اچوي لاسو ته
څلوېښت کـــالـــه پوره سول کاناډا کي چي ميشته يم
فقط زه چـــي وام اوس هم په دې ملک کي مېلمنه يم )
په سترګو کـــي يې اوښکي د حسرت سره حلقه سوې
يو څو غټې دانـــې يـــې ګـــرېـــوانه ته ور شوه سوې
په غـــرېو نيـــولي ږغ يـــې راتـــه ووې (افغـــانـيـه
زما کـــورټ هېـــر سوی نه دئ نيدرلينډ تر دې ګړيه
کـــه نن وي کـــه سبـــا وي رســـــوم به ځان وکور ته
پاک خـــدای مــــي دي نه اچوي د بل وطن و ګور ته)
زما خيال ســـو چي دا زه يم چيغي کړم پر غرو رغونو
د دې وينا غبـــرګـــون دئ زمـــا د خپلـــو فريادونو

======

اوکويل - کاناډا - ۱۹۹۸ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تنګه قافیه

په وږمونو که الیش د باروت بوی سي
پر کهاله به مي ګویا (زېرى د زوى سي)
په بانو به ورته لویه لار جارو کړم
که د سولي د ایلچي مخ زموږ پر کوی سي
د وطن د میني مى شراب طهور دي
په یوه څاڅکي يې درست جهان خوشبوى سي
پام ! چي ور نه کړئ اختیار ظالم یزید ته
عاشوره به مو اختر، کربلا طوى سي
کور کهول به پکښي پڼ نه سي هیڅکله
د کږدۍ که چیري مراندي سره توى سي
چي د ننګ په بیه پېري لنډه عیشونه
موږ يې نه کړو، دا چړچې خو دي د دوى سي
له هغه تېره لاس پرېولی ښه دئ
کې[28] حیا په بې آبیو شست و شوى سي
د پښتو متل مصداق خو مي نن وکوت
(لوى کورونه به کوچني، کوچني به لوى سي)
په سل کاله ریاضت به تري خلاص نه سي
غلامي که د یو چا یو ځلي خوى سي
قافیه سوه باندي تنګه[29] معصوم چوپ سو
پر پرېدئ زړه يې د کوټلو وینو جوى سي

======

اوکویل - کاناډا - ۱۹۹۸ع

---

[28] کې = که یې

[29] په پښتو او فارسي ادبیاتو کي د (قافیې تنګوالى) مجازاً د (عاجزۍ، بې وسۍ) په معنا کار سوى دئ . دلته يې اصلي او مجازي دواړي معناوي په پام کي نیول سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نهه توره

چي پــوه ســوی يم په سپينو او په تورو[30]
ځي پــه لپـو لپـو اوښکــي مي تر تورو[31]
نه له چا ســره پــه ژبــه يــم پــوه سوی
نه مي سر خلاص سو له چا ســره په تورو[32]
دا رقيب دئ چـــي نفاق کــري په منځ کي
زمــوږ په نزد نسته توپير د سپينو تورو[33]
که قصـــور د باغوان نــه دئ نو د چا دئ؟
شنه باغونــه سول بدل پــه شاړ و تــورو[34]
له متغ څخه خوند تللی کــه لــه خولو څه
که مــزه تللې يــو مــخ لــه سپينو تورو[35]
چي ټگــی برگـــی تــه گورمه د خلکــو
وام نيولی مي وای مخ يو مـــخ پر تورو[36]
چي ترلای نه سي تانگ او شـهسوار وي
خود بې قدره به زين آس وي تــر شا تورو[37]
د تقــوا په لافو شاپـــو يـــې تبـر نه سئ
دا نامــرد دئ گناهگار تــر ډېـرو تــورو[38]

======

اوکويل–کاناډا–۱۹۹۸ع

---

30 په سپين و تورو پوهېدل يعني د تميز سن ته رسېدل.

31 توري دلته د سترگو په معنا دي.

32 توري دلته د حروفو په معنا دي.

33 تور دلته د تور رنگ په معنا دئ.

34 توري دلته د شاړو په معنا دي.

35 سپيني و توري دلته د غوښو په معنا دي.

36 توري د کندهار ښار شمال ته د غرونو يوه لړۍ ده

37 شاتوري دلته د خرو په معنا دي.

38 تور دلته د متهم او گناهگار په معنا دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زخمي نارنج[39]

يارانو! ما محفل ته تش لاسونه دي راوړي
له باغه د نارنج مې وچ ښاخونه دي راوړي
ګرم نه يم ملامت نه يم قلم مې ويني ژاړي
بيتوکي مې زخمونه و دردونه دي راوړي
له لويه کندهاره بيا تر لويه ننګرهاره
تاريخ د دوو نارنجو داستانونه دي راوړي
يو قصر د نارنج و بل نارنج نارنج باغونه
يو پټه خزانه او بل لعلونه دي راوړي
يو لوټې لوټې پروت دئ بل دئ پاڼې پاڼې پاڼې
له جوره يې د هسک شکايتونه دي راوړي
نارنج دئ درې ورې و هډه ده ورانه ورانه
له خپلو له پردو يې فريادونه دي راوړي
له بوټو و له کاڼو چيغې خېژي اسمانو ته
افغانه! ستا له لاسه مو ډک زړونه دي راوړي
ماحول درته اور دئ ټکې لوېږي پرې د پاسه
اسمان له ډېره ښنمه توپانونه دي راوړي
بريښنا اورونه لوني و تناوي زهر پاشي
په څاڅکو کې يو مخ درته مرګونه دي راوړي
وطن دې کربلا دئ عاشورې دي اخترونه
زمان و مکان دواړو آفتونه دي راوړي
ازل لکه چې ته يې بس غمو ته پيدا کړې
تقدير مګر ستا برخه اجلونه دي راوړي
درجار سم درواري سم سترګي لږ شاني کړه خلاصي
چې چا درته اغزي و چا ګلونه دي راوړي

---

[39] دا شعر په ټورنټو کې د نارنج ګل په مشاعره کې ولوستل سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا سر در باندي کښېښو و چا خرڅ کړې پر دښنه وو
چا پت کړ در خوندي چا پېغورونه دي راوړي
چا خپلو کي ونډې کړې څوک دي بولي و وحدت ته
چا غبرګ کړ درته خلاص چا نفاقونه دي راوړي
راپاته عنعنه ده له پلرو د رزمونو
تاريخ کي مي نصيب انقلابونه دي راوړي
يقين مي دئ پر دغه ازمويښت بيا بريالی يې
(هوتک) وايي ما مخکي انعامونه دي راوړي

======

اوکويل–کاناډا–۱۹۹۹ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



مه کړئ نفاق پر کرونده د ملک
قام په تباه کېږي دا خو ظلم دئ
مه ورکوئ خیال ته مي رنځک رانجه
ژبه ګونګۍ کېږي دا خو ظلم دئ
مه ږدئ پر باڼو باندي د خلي بار
داغ یې پاته کېږي دا خو ظلم دئ
مه لوځوئ ښکلي پرده پوښ دي وي
اور ځیني لګېږي دا خو ظلم دئ
مه روږدوئ قام په غلامۍ د بل
بد رسم بابېږي دا خو ظلم دئ
مه ږغوئ دا د جهالت سالار
پدل یې ماتېږي دا خو ظلم دئ
مه وژنئ دا سپي پرېږدئ ژوندي دي وي
ښار په مرداریږي دا خو ظلم دئ

======

۱۹۹۹ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاکي مور

پرون مینه وه بې آبه عشق سنګسار په تومتونو
چلېدی راج د بدمستو حیا خواره چارماري وه
باد راسته د بدمرغیو بازار تود د بې لاریو
مېړني تر وړی سپک وو ننګ غیرت کلپه ایکي وه
وفا ورکه، پښتو خرڅه نوغی پوري په وروری و
تقوا کونډه، زهد یتیم و د حق لاره ریشخندي وه
د بدی پله درنه وه د نېکی ترازو څیري
د سرخېلو سر په دار و د تور سرو سر کلي وه
د وطن مور ژړېده له برېتورو څونږورو
خو نن حال له کهاله راغی چې له ډیرو هم شاکي وه

======

اوکویل-کاناډا - ۱۹۹۹ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يتيمې سلګۍ

يو ته نه بلکې ټول قوم و ګدۍ مې ژړوي
چې ته مې ژړوې ګويا نړۍ مې ژړوي
سېلاب د تودو اوښکو مې ګرېوان لمبه کړ
شلېدلې خيرې ګرالبي و تنۍ مې ژړوي
د مات زړګي پر سر د دلاسا لاس راتېر نه سو
نصيبه! د يتيم کوګل سلګۍ مې ژړوي
تندۍ مې سوداګر دئ د سرو اوښکو د سپېيو
سودا د دردانو د ارزانۍ مې ژړوي
منصور زړه مې په تور د حق ويلو په دارېږي
دا عدل دا انصاف دغه رسۍ مې ژړوي
لاسونه بې قدريو بې نيازيو سره ورکړل
اجماع د بې مهرۍ و بې ارزۍ مې ژړوي
بدنامه په ازار د بې ازارو زمانې کړه
چنجې به څه پوښتمه توتکۍ مې ژړوي
ګيله به له چا وکړم له عالمه که له بخته
درانه مې ژړوې سپک تر ورۍ مې ژړوي
زمان يوه صحنه ده د غمونو و دردونو
پرون لوی ژړولم نن کوچنۍ مې ژړوي

======

۱۹۹۹ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قرن وروستۍ غزل

نصیب مي کهربا ده جذبوي د غم خځلي
ګرم نه یمه عالمه که قلم مي وي ژړلي
ښادي ته وا هوسۍ ده له ښکاري څه ترهېدلې
ښکالو چي زما پر ننبلي په ټوپو راڅخه ځغلي
پوره نیمه پېړۍ مي وګالل د زړه دردونه
لا ګوره چي په ما باندي یې نور څه دي لیدلي
خوښي مي مصنوعي ده په ظاهر یې خطا مه سئ
خنداوي کله کېږي په ها زړو چي وي داغلي
پېړۍ راته ختمېږي خو بېړۍ به راسته نه سي
ما ډېر ټاپي د بدو و د ښو دي ازمویلي
لړ پام کوه اسمانه زما آه به دي نسکور کړي
دوعاوي وي د ولي یا ښېراوي د ناولي
امید د ایمان جز دئ پرېښولای یې کورټ نه سم
که څه هم نامیندۍ دي راته شاه و خوا خرلي
مضبوط ورته دربږه اې معصومه ژوند سېلاب دئ
دې نېزدي غتې ګرګي له ریښو څخه راکښلي

======

۳۱ دسمبر ۱۹۹۹ع
د روژې درویشتمه - ۱۴۲۰ق
اوکویل - کاناډا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Y2K[40]

ژوند مې تېر کړ درې بالا نیمه پېړۍ
وم شاهد د خپل هیواد د بربادۍ

ګوره کله به مې دا ارمان پوره سي
چې راسته ووینم زموږ چپه ښېړۍ

======

اوکویل - کاناډا
د یویشتمې پېړۍ لسمه دقیقه
۱ جنورې ۲۰۰۰ع

40 په لوېدیځو مطبوعاتو کې یې دوه زرم میلادي کال په (Y2K) سره ښوولئ چې مطلب یې (Year Two Thousand) و. دلته د (K) توری د زرو (۱۰۰۰) په مفهوم کارول سوئ دئ. لکه په کیلو متر او کیلو ګرام کې چې هم د زرو مفهوم ځنې اخیستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مبارکي

مبارکي راکړئ د زړه غوټۍ مې بیا وخندل
له توري دربې و دوربې څخه روڼا وخندل
د خوښۍ اوښکې مې په سترګو کې را غونډې سولې
چې د ګل مخ مې و شبنم ته د سبا وخندل
سپوږمۍ د تندري له مدار څخه راووتله
په تک سپین مخ یې توري شپې ته په قاه قاه وخندل
خورې ورې سولې لړۍ د بدمرغۍ له هسکه
د خړو وریځو له درزو څخه برېښنا وخندل
د آه په زور مې نمرودي لمبې خاموشې سولې
له تناره څه ابراهیم خلیل الله وخندل
طبیبه خیري کړه د ژوند دا زهرجنې نسخې
زما د ناسور ټپ ته ناڅاپه مسیحا وخندل
بخته اواري دي که ګونجې د تندي له تخته
چې پایبوسۍ ته دي د وخت لوی شهنشاه وخندل
نامینده مه سئ لارویو د اغزنو لارو
په شرط د دې که مو زما پند ته په رشتیا وخندل
د ژوند سفر وي همېشه له کړاوونو سره
په عافیت وي، که و مل له امیدونو سره

======

اوکویل - کاناډا - ۲۰۰۰ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هيلو مزار

ببربړم عاطفې يې د طيغان په تکل نه سي
ډاربړم دا اوريځې د توپان په تکل نه سي
شاهد ياست حوادثو غاړې غرونه راځه يوورېل
خدای مه کړه چې دا ځلې د جانان په تکل نه سي
د زړه په کرونده کې بې په اوښکو اوبومه
غمگې سورکې غاټول دئ د دامان په تکل نه سي
د حورو پښتنو چيغو له مخه پلو اخلم
وام صبر مو مغول دئ د غلمان په تکل نه سي
داغونه مې پر زړه خو د لاله په شان خندېږم
دا ځکه چې اسمان مې د درمان په تکل نه سي
د هيلو و مزار ته دروم اسوېلې شنختې
چې ټگه زمانه يې د کتمان په تکل نه سي
ياغې دې قريحه سوه جلوونه يې ټينگ نيسه
معصومه چې قلم دې د ديوان په تکل نه سي

======

اوکويل - کاناډا - ۲۰۰۰ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۲۰۰۰ کال د جنورۍ پر د برشمه فاضل استاد پوهاند رشاد له جاپان څخه له یو لیک سره خپل یو شعر رالیږلئ و چي د (زړتیا خزان) یې نوم پر ایښئ و . د دې شعر تر لوستلو وروسته ما دا لاندې نظم وکښئ.

مه راوینې
لو یه خدایه !
بهارونه د نیازمنو
چي لا ښېږي به
په هښمو په تناوو په ژلیو
د (زړتیا ) د (خزانونو )
سر توربږي باندي هیلي
یتیمېږي ارمانونه
کونډې کېږي ارزوګانې
غمجنېږي خوشال زړونه
په حکمت باندي مي پوه که
لو یه خدایه !
چي تا ولي؟
بهار نه دئ اوبه کړی
په چینو د قاف د غرونو
تا تر خضر مشر نه کړ
بهار څله په کلونو
په حکمت باندي مي پوه که
چي ته ولي
لو یه خدایه !
ګوا ښوې زموږ بهارونه
د (زړتیا ) د (خزانونو )
======

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ناڅاپه مې په زړه کې
دا خبره سوه راتېره
مګر ته لکه چې غواړې
چې بهار دې ځوانيمرګ وي
د شباب پر برندو ښاخو
وي دې مات پر ملا دې غبرګ وي
زړتابه خو پختګي ده
تر مرادونو رسېدل دي
امان غواړئ له خاميه
چې په اور کې کړېدل دي
د (زړتيا خزان) چې ګورم
له غمګي مې زړګی دل سي
خو حکمت ته چې يې ځير سم
نو مې زړه لږ څه تسل سي
======
سکاربورو - کاناډا - ۲۰۰۰ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اروېځو ګالري

غرونه غرونه
د اورېځو
درومې درومې
په اسمان کې
سره ماتې يې لړۍ دي
پکښې جوړ دي کنډوونه
پکښې وينم تصويرونه
پکښې ګورم انځورونه
د سړيو
دزمريو
د زلميو
د بوډيو
الوتونکو
ډاروونکو
د اشنا ، د بېګانه وو
د کړلو ، نازدانه وو
يو ناڅاپه، په دې منځ کې
يو درنه څېره ښکاره سي
ورته ګورم
ورته ځير سم
سمدم ((دی)) وي
هماغه چې ما ليدلی
د تاريخ پر زړي پاڼو
هغه ډيره
هغه سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



محرابي وروځي پرې باندي
هماغه زمري برېتونه
هماغه امسا په لاس کي
د يو ستر منبر د پاسه
وي ولاړ په درناوی کي
ته به وايې
مخاطب يې
ټول جهان ټول کاينات دي
ورښيي ژغورنده لاري
ورښيي د ژوند رازونه
ټول جهان ته وايي غوږ دئ
منتظر يې بيانو ته
د ده پند د ده ورمو ته
عظمتونه يې و پښو ته
دي پراته پر سجده باندي
د لقمان حکيم خبري
د ده پند ته سپکي سپاندي
زه په زړه کي هوسېږم
په کالو کي نه ځايېږم
چي دا ((دی)) دئ
هماغه چي ما ليدلی
د تاريخ پر زري پاڼو
يو ناڅاپه باد راسم سي
سره ماتي کړي اوريځي
سره توی کړي تصويرونه
سترګي کش سي
ړيره ورکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



برېت څوکړ سي
بګړۍ پرېوزي له ککري
امسا ولوېږي له لاسه
منبر مات سي، پسي اوړېد سي
نوکي نوکي
باد يې يوسي، ترى تم سي
زه په ځير ځير ورته ګورم
برخليک
د خپل اولس مي
پکښې وينم
په اميد اميد يې څارم
چې به کله؟
چې به چيري؟
سي پيوند دغه مات توکي
ځني جوړ به بيا تصوير سي
هماغه چي ما ليدلی
د تاريخ پر زري پاڼو
======
سکاربورو- اونټاريو- کاناډا
۵ اپرېل ۲۰۰۰ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو که خوږ کړی، ځورولی ژړولی یم
خدایږو ستا مظلومو سترګو غوټ پر ملا مات کړی یم
غم دي سور لښکر دئ یرغلونه کړي داړې وهي
شکر دئ چي زه یې ټینګ مورچل ماله جات کړی یم
برخه په میراث کي د محمود مي بس همدغه ده
وار ته د تهمت یې پټه خوله سومنات کړی یم
لار د ابراهیم مي خوښه کړې باندي ځمه به
خیر دئ که رقیب مي درته لات و منات کړی یم
چتر مو یم سیوري ته مي کښېنئ په ډاډه زړګي
ولي مو ناحقه تود ډګر عرسات کړی یم
قرن دي شاهد وي انتقام به ځیني اخلمه
چا چي په نامه د مناجات، خرابت کړی یم

======

اوکویل - کاناډا
پیل: د شلمي پېړۍ وروستۍ ورځ
پای: د یویشتمي پېړۍ لومړۍ ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه ولاړ وم

د پېـــړيو تېـر و بېـــــر و، زه ولاړ وم
نور څـوک نـه وه يو پامېر[41] و، زه ولاړ وم
زمان اوښتـــې شاهـۍ وې بدلېــدلـې
د نن څـوړ سبا ســربېـــر و، زه ولاړ وم
تهذيبونه چې د آس په سـوو کړل خاورې
د چنــــګېـز چې لته پېـر و، زه ولاړ وم
ورانـــول چـې يې په ګوډه پښه ښارونه
تـر نيکـه په وحشت تيـــر و، زه ولاړ وم
د اســــلام په نـوم يـې غبرګـې چلولې
عــــرب شــاه دو شمشېر و، زه ولاړ وم
ســومنــات چـې ځيـــراوه د غزني توري
هنـــد و سند چې ورته زېر و، زه ولاړ وم
اصفهــــان چـې جارېـــدی تـــر قدمونو
د ميرويس و محمـود پېـر و، زه ولاړ وم
چـــــې تورېل يـــې ظلمات له پاني پته
احمـد نه و، بس يــو شپـــر و، زه ولاړ وم
د اورنــګ و د فـرنـګ پــه واکمني کې
هيـــواد ټولــه په بل څېر و، زه ولاړ وم
نغـــاره چــــې ډنګېــدلــه د روسپالـو
شــوروي پـر ملک چاپېـر و، زه ولاړ وم
ايښاوه يـې ننګ و نـام د روس و پښو ته
تر کـابل، مسکو ور تېـــر و، زه ولاړ وم
چـلـول چې يې پر مړو باندې حکمــونه
آ حضــــرت د بـــــلا هېـــر و، زه ولاړ وم
راج د غلـو و تـالانــګـرو چـــې روان و
د ستـــم مخ چــې برسېــر و، زه ولاړ وم
ميـوندۍ کوځې چې يو مخ کنډواله کړې
چاراسيـاب و که پنجشيـر و، زه ولاړ وم

---

[41] د (پامېر) کلمه په ځينو لهجو کې په اوږده (ی) تلفظېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي د (مرگ د رقص) تېري واکمنان وو
د (پکول شاهۍ) بهير و، زه ولاړ وم
جاربدلی چي کابل تر هوسونو
د افغان خوږ ژوند گنډېر و، زه ولاړ وم
لوټېدي چي خزانې د موزيمونو
او هيواد ټوله واشېر و[42]، زه ولاړ وم
(مزار) ټوله مزرعه وه د قبرونو
شمال خپور د مرگ و مېر و، زه ولاړ وم
(قند) و (هار) و سره بېل کندهار غم و
(قم) باميانو ته راتېر و، زه ولاړ وم
(بدخشان) بدو خسانو لاندي کړی
د (کولاب) اثر پر ډېر و، زه ولاړ وم
د (قطغن) پر غرو خوښې وې قدغن سوي
تري په تېښته چي نخجېر و، زه ولاړ وم
د نارنج وږم و کوچ له (ننگرهاره)
شين بگرام ټوله (غدېر) و، زه ولاړ وم
چي د (ترخه و پاچا) شعار جاري و
پر هر گام باندي زنجېر و ، زه ولاړ وم
وحشتونه زېږېدل له کانو بوټو
ملت ټول له ژونده سېر و، زه ولاړ وم
که ظالم و که عادل واکمن په ملک کي
سلامي زما مخ ته تېر و، زه ولاړ وم
عجايب وه په نړۍ کي يو څو څيزه
زما نوم هم پکښې شمېر و، زه ولاړ وم

صد افسوس چي خاوري کړم هغو مېړو
چي گټلی يې و نوم د فرشتو

======

ټورنټو-کاناډا-د اپريل ۲مه، ۲۰۰۱ع

[42] واشېر د کندهار – هرات پر لويه لار د يوې سيمي نوم دئ چي پخوا به تل غلو نيولئ و او خلک به يې لوټول. دا کلمه په کندهار کې د (غلو او غدې) له پاره استعاره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مازیگر ژیړی لمره

څه جادو دئ څه منتر دئ
مازیگره ستا په لمر کي
رسوې مي خاطرو ته
تخنوې مي احساسونه
ژړوې معصوم خیالونه
په لیکې ژړاند شعرونه
څه نسبت ستا و د حسن؟
ستا یو ژیړ زېښنلی مخ دئ
ژیړ مخ نښه د رنځور ده
یا د ګرم یا ملامت ده
د نېستمن ده د مجبور ده
ته آغاز د تاریکۍ یې
ستا سرخي یو څو شېبې ده
ته لومړی مزل د شپې یې
تیاره سم په تا پسې ده
دا ښکلا دي ده په څه کي؟
دا کشکش دي دئ له کومه
مازیګره ژیړی لمره
پوه سوم پوه سوم
پوه سوم پوه سوم
مرغان هغه سره اوسي
چي یې ورته وي بڼکي
په رنځ هغه سره پوه وي
چي یو شاني یې وي چړیکي
ته ډوبېږې په تیارو کي
روښنایي د رڼه تولیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ورځې ماښام سوي
زما ستوري پيکه کيږي
ته مېلمه د دربېلي يې
درکوي زهر په جام کي
ته له ورځي رخصت اخلې
ځکه ويني ويني ژاړې
زه په وينو وحشت پېږم
مېږ مرداره پور تر غاړې
مازيګره ژيړى لمره
زما په رنځ و درد خبره
تر سرخي وروسته پر تا دي
ماښامونه خپاره سوي
ماته هم پېښه له سرو ده
سرو غدى راته پاشلي
تاته سره افق په غېږ کي
تور تمونه دي راوړي
ماته سرو د سر کاسه کي
همېشه اوبه راکړي
ته ډوبېږې په تيارو کي
زه لمبېږم په فتنو کي
ته سوځېږې په لمبو کي
زه تپېږم په جګرو کي
مازيګره ژيړى لمره
زما په رنځ و درد خبره
چي پر کور مو لنګه سوې
د غديو سره بلا ده
آرامى سوې راڅه کړه
بدمرغى مو تل په خوا ده
که تپ کېږو محوه کېږو

(c) ketabton.com: The Digital Library



که له لوړه ځوړ ته کېږو
که له لوړې هلا کېږو
که د بل په لاس ورکېږو
مرور که بهارونه
که پېزې دې ژړ ګلونه
که مو مړاوي دي بڼونه
د خزان پرې چپاوونه
که اختر مو عاشوره ده
که نوروز راځه بېلیږي
که هر دښت مو کربلا ده
که یزید پرې هوسېږي
که رباب د آدم مات دئ
که درخو ناسته پر کور ده
که پتې ورک پر ولات دئ
که رابیا په سر سرتور ده
که نارنج ګل قصاصېږي
که ګلاب پر سر د دار دئ
که انار ګل مو رژېږي
که دښمن یې "لاله زار" دئ
که پسرلی مو خزان سوی
که وږمې پر کوچ ور بار دي
که نرګس پر ملا مات سوی
بلبلان مو په چیغار دي
که ښارګ د ښار پرې سوی
دود د کلیو تر سر خېژي
په ښاریانو کي ساه تهوله
کلیوال سره ننېږي
که کوچی په زړه غمجن دئ
که ورشو ورته اغزي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ګاونډ ورته دښمن دئ
ټپک يې ورک دئ پر نېستي ده
که له وروړ سره اخته يو
که پښتو ده راځه سپکه
که له تخته پر تخته يو
که پاړسو ده راځه ورکه
مازيګره ژيړې لمره
زما په رنځ و درد خبره
دا فتنې ټوله د سرو دي
که د خپل که د پردو دي
سرو روزلي دي ناولي
سرو زهرونه دي پاشلي
سرو مغزونه مسموم کړي
انتقام تې هڅولي
مورې ته پېښه له سره لوره
مورې ته پېښه له سوټکه
چي کرو پر پټې مينه
حاصل اخلو ځيني کرکه
مازيګره ژيړې لمره
زما په رنځ و درد خبره
زه و ته نصيب نن مله کړو
رنځ مو يو دی چي خواله کړو
======
ټورنټو - کاناډا
د مې ۱۲مه، ۲۰۰۱ع کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زندۍ

که دا حال و نه به شعر نه به نظمونه پاته سي
د ادب پر کرونده بخ وچ ډاګونه پاته سي
په مرګو چي ځني وزي شهبازونه له کوځو څه
د آدم په خيالي ښار کي به قبرونه پاته سي
چلېدلي که دُرې د محتسب هسي بې واره
په بازار کي به د زهد صرف دوکانونه پاته سي
و اوړو ته چي سوې پورته جنازې د غيروتونو
د پښتو پر کور به خود تور دېوالونه پاته سي
ککرۍ که هسي شاني بې مېروزه رغړېدلې
د سرخېلو پر دفتر به تش نومونه پاته سي
چا منصور ليدلی نه دئ اورېدلي يې کيسې دي
زما به هم د دار په ژبه داستانونه پاته سي
عشق تاداو د ژوندانه دئ په نسب مي راشريک دئ
د رقيب پای نامېندي ده که کلونه پاته سي
د نيازمنو کوچ و بار دئ د خواله ځوک نه سوه پاته
د معصوم پر ډک زړګي به ارمانونه پاته سي

======

اوکويل-کاناډا - ۲۰۰۱ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنازولوکور[43]

لا اوس هم باندي چغېږي ځو بلبلي
پر ها درختو چي جګړونه دي سوځلي
اوس لا هم وږم راځي له سپېرو دښتو
خير که وريځو ځو پسرلي نه دي خندلي
اوس لا هم په سړو زړو کي څه ګرمي سته
نامېنديو که هر ځو دي ننولي
لامين کاته دي پاته پر ځو سترګو
په کړو بڼو لا اوس هم زړه پېيلي
طراوت يو مخي ټول نه دئ له باغه
لا ځوک سته چي د نرګس جام تې نېنګلي
له ګړوب ښاره لا نغمه د ميني اورم
ازانګې مې ئې له ليري اورېدلي
د ريا زاهدان پټ سر پکښې ګرزي
خپلو کړو و خپل عمل دي شرمولي
عقل کوچ نه دئ يومخي له دې ښاره
خير که کړو د جنون پر اړولي
لا پر وچو شونډو پاته څه موسکا ده
څه کې خاوري د ببلتون پر سر پاشلي
چي د ستړو قافلې پر هوسا کېږي
اوس هم هغه چينې سته ،هماغه کلي
له دې ښاره نظرمه اړوئ خلکو
پکښې اوسي اوس لاهم ډېر نازولي

======

ټورنټو ،کاناډا
۱۲نومبر۲۰۰۲ع

---

[43] د کاناډا د (NATIONAL POST) ورځپاڼي په پرونۍ ګڼه کي د لومړۍ عمومي جګړې د يو افسر ليک خپور سوی و او په هغه کي يې يو ځای کښلي وه:
"… and yet the birds kept singing in the trees-what trees were not cut down by shells."
د دغو جملو اغېزه وه، چي دا شعر يې را باندي وکېښن. (هوتک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د احسان يې زما پر سر دئ همېش سيورى
چې په ژوند چا راښوولى دئ يو تورى
د سلام پر بنده وايم سلامونه
پر دارينو دې خداى نه کاندي مختورى
دا د حسن اغېزه ده بل څه نه دي
راڅه ورک چې کوز و پاس ښى و کيڼ لورى
پېرزوينه د پاک رب، زيار د استاد دئ
رقيبانو څله رڼ رڼ راته ګورئ
همدغه وياړ راته بس دئ په ژوندون کې
چې نه مل سولم د غلو، نه هيوادپلورى

======

مسيساګا - کاناډا - ۲۰۰۲ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په زړه کې تصور کړل
د دنیا سخت کړاوونه
چې یو څوک را څخه باسي
په امبور د لاس نوکونه
داغوي مې پسته ژبه
پر ایږدي تک سره سیخونه
راټوکېږي مې په ماغزو کې
تېره غشي تېز سرونه
راتوږي مې تور د سترګو
پر نینک مې ږدي اورونه
پوري ووري تر زړګي مې
باسي تک سره نشترونه
پوستوي مې په ژوندوني
پرې کوي مې اندامونه
اوروي مې پر زړه باندي
د اغـــــــــــزیو بارانــــــــــونه
راکوي د سر کاسه کې
جــــــــــل وهلـــــــــــي مـرادونه
پر بـــدن مـــي صلیب واره
ټک وهـــــــــــي د اور مېخـــــونه
خو یو بل درد راته هېر کړي
دا ټول واړه زحمتونه
هغه دا چې مې پر خاوره
بېګانه ربي توغونه

======

ټورنټو- کاناډا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتانه ته وايم

هک پک گورمه د نورو ويانه ته
د خپل اوښ په واښ ترلي زنگانه ته
هوسۍ هسي له هوسه باندي خوب کا
مېړنتون دئ خدای رازلی پښتانه ته
له يوې بلا راخلاص بلي په خوله کړ
له ناوي سو راگوښه ناست بارانه ته
د يوې ايکۍ اثر مي چيغي نه کا
لکه څوک چي خطابه کړي تېپ کاڼه ته
دی بيده، بخت يې بيده، ماحول بيده دئ
دوست دښمن يې چړې کښلي لړمانه ته
له غفلته چي رمه ټول لنگ و لاښ سوه
سزاگاني سختي بويه دي شپانه ته
که تر دغه ازمويښت هم پښتون و ووت
سلامي به يې جهان وي و نامه ته

======

اسلام آباد

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دلې او هورې

دې ساړه شان پسرلي کې
اميدونه خزانېږي
د ژوندون مېوه خازه سوه
هم دلې او هم هورې
د خونخور ساقي له لاسه
جام د زهرو وېشل کېږي
قتلګاه مو ميخانه سوه
هم دلې او هم هورې
د پښتون پر حال ژړېږم
کور يې وران سو لا ورانېږي
شو په شو يې قافله سوه
هم دلې او هم هورې
زما بخته، توره بخته
زمانه دې سوه دښمنه
سمه لار درته کوره سوه
هم دلې او هم هورې
په زړه خوږ له پرد ېسيه
پر ملا مات له بېکسيه
له مېړو خالي توبه سوه
هم دلې او هم هورې
خالي لاسه دښمن ته يې
ګدا خوار په مطلب پوه دئ
چې د سپو سلا يوه سوه
هم دلې او هم هورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## رونې شپې

لټ پر لټ اوږم په ځای کي
نا ارامه، سهار ليري
هره شپه د يلدا شپه سوه
هم دلې او هم هورې
خپل احساس ورته خوراړه دئ
چي مدام په ببړانه دئ
د معصوم دغه دنده سوه
هم دلې او هم هورې
======

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما مېنه اولنۍ د پرېښوولو نه وه هيڅ
اورشو مي پلارنۍ د هېرېدلو نه وه هيڅ
دوستي کې[44] د پيسې پر قام دوستۍ نه وای بر کړې
پایه د ورورولۍ د ماتېدلو نه وه هيڅ
ارمان دارلامانه ناخلف دي ښتنان سول
دا ستا هسکه ماڼۍ د نړېدلو نه وه هيڅ
افسوس دئ چي اولاد يې د بابا همت ته شا کړه
کنه، دغه بګړۍ د رالوېدلو نه وه هيڅ
پښتونه! دي ناولي دنيا څه کانه دروکړه؟
دا مشکه دا رنډۍ خو د غوښتلو نه وه هيڅ
اړتيا د مغفرت وه چي خيالي سر مي سجده سو
کنه دا ککرۍ د ټيټېدلو نه وه هيڅ
بېلتون که لکه سيورۍ مي د ژوند ملګرۍ نه وای
دا ژبه مي تورۍ د شعر ويلو نه وه هيڅ

======

اوکويل - کاناډا

[44] کې = که يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چې دا ولې؟

انګار مې له سینې څه نه راوزي چې دا ولې؟
اشعار له قریحې څه نه راوزي چې دا ولې؟
قلم ریچې ریچې کړم که جزدان پاره پاره کړم
یو ټکی مې له خولې  څه نه راوزي چې دا ولې؟
و چاته زړه خالي کړم، غمشریک چېرې پیدا کړم
شناحته له کوڅې څه نه راوزي چې دا ولې؟
په زړه کې مې لمبې دي په سوځېږمه مکوټ سوم
خولوګي له  تاوخانې څه نه راوزي چې دا ولې؟
کرۍ شپه منتظر یم د سپېدو و چاودېدو ته
سهار له دغې شپې څه نه راوزي چې دا ولې؟
زما خیال دی اسمانونه مې هم چیغو دي اخیستي
غبرګون له ازانګې څه نه راوزي چې دا ولې؟
بس ته به وا یو مخې د ژوندیو هدیره ده
هیڅ شخول له دې مېرې څه نه راوزي چې دا ولې؟
فقط ته وا رانجه یې دي و ټولو ته ورکړي
هیڅ ږغ له حنجرې څه نه راوزي چې دا ولې؟
قاصد په تلو راتلو سو ستومان د بابا ښنه مې
د مځکې له موزې[45] څه نه راوزي چې دا ولې؟
زندان سو دړې وړې، زندانوان په تورو تور سو
خو ښېښې له زوانې څه نه راوزي چې دا ولې؟
قفس ټوکر ټوکر سو، لومې وشلېدې دام لوټ سو
توتي له پنجرې څه نه راوزي چې دا ولې؟
اسلام پر هیواد خپور دئ مسلمان مو حکمران سو
خو تکبیر له منارې څه نه راوزي چې دا ولې؟

---

[45] د جغرافیایي په پخوانیو کتابو کې یې (ایټالیا) ته (موزه) ویله. دلته هماغه مفهوم ته اشاره ده. (هوتک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عدل و انصاف په تمه ناست وګړي ستخ سول
لوی ټګ له محکمې څه نه راوزي چي دا ولي؟
په غلو و په غديو مو تالا ټوله ګدۍ کړه
يو نر له قافلې څه نه راوزي چي دا ولي؟
درخو که وايي آدم نسته، خو سته رباب په غبېږ کي
حيران يم له پردې څه نه راوزي چي دا ولي؟
که هر څه يې رابولمه مېلو و تماشو ته
معصوم له غم غوسې څه نه راوزي چي دا ولي؟

======

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو کاله وړاندې د ایران مشهورې سندرغاړې لیلا فروهر په ټورنټو کې کنسرت درلود او د کنسرت په ترڅ کې یې یوه پښتو سندره هم وویله، په هغه وخت کې د کابل واکمنانو پښتو دښمنه پالیسي چلوله. په دغه شان حالاتو کې د لیلا فروهر له خولې پښتو سندرې ویلو پر ما اغېزه وکړه او دا ځو بیته مې فی البدیهه وویل.

نازم ازینکه باز چه زیبا شده پشتو
با نغمه حزین که یکجا شده پشتو
کم ارج در بساط سیاست که شد چه باک؟
در جمع هنردوست پر بها شده پشتو
یاران دهید مژده به آن قیس غوریان
کاکنون پسند خاطر لیلا شده پشتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوندونه

# و

# شخوندونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دا ځلوريځې په مختلفو وختونو او بېلابېلو حالاتو کې ، په هيواد کې دننه يا تر تيواد بهر ويلي دي. هره يوه يې جلا – جلا انګېزه لري. دلته مي يو ځای سره نښلولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعر څه دي د احساس راپارېدل دي
د خونخور فلک له لاسه ژړېدل دي
یا د مینې د خیالونو په بستر کې
راز و نیاز دئ اوښتل را اوښتل دي

======

سوله چې شرط یې زموږ غلامي وي
یا مو په دې شرط، څه ارامي وي
سل واره جار دې تر هغه جنګ سی
چې ارمغان یې زموږ ازادي وي

======

جګړه که هر څو ډېرې سختۍ لري
ماتې و ګوډې، ژوبلې ورانۍ لري
ټولې مو ځکه پر ځان منلې
چې راته زېرې د خپلواکۍ لري

کابل-۱۴لیندۍ۱۳۷۵ش

======

زما د سر امان دې وي تاجرزاده یم
او له پلاره و نیکه عالمزاده یم
زما اسې برخه نه دا سوه او نه هغه
خالي لاس یمه، امې مادرزاده یم

۲۳ د غبرګولي۱۳۷۵ش

======

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه عجبه حوادث دي چي تيرېږي
يو د بل له پښو څه خاوري ايستل کېږي
ما چي هر څه دئ خپل فکر ځغلولی
دا منگی بيا د پښتون پر سر ماتېږي

کابل - ۱۳۲۵ش
======

هک حيران يمه غافلو پښتنو ته
د دا نورو زرنگۍ، فريب و چلو ته
که چرچې وي پښتانه د چا په ياد وي؟
چي پر غرنده سي، مخ يې سي پښتو ته

کابل - ۱۳۲۵ش
======

ستاسي په نزد به خوار نتلی يم
پر هر ميدان به رقيب کړلی يم
خو وخت شاهد دئ، تاريخ خبر دئ
چي په مېړانه ټولو منلی يم

======

اې قدرتمنو! اې جابرانو
په نشو مستو، اې کورمغزانو!
قدرت زوال لري، نشې الوزي
سد مو کوره سه، اې ناپوهانو!

======

(c) ketabton.com: The Digital Library



مات دي مغزی سه، په خوا دي مرگ سه
آ په زړه توره! اینه دي گرگ سه
چي نه سوځېږي په آه د کونډو
سر به سر تور کړم چي توی دي ورگ سه

======

نن چي یې وینې د ملک رهبر وي
ډب یې مغزن وي برېت یې ببر وي
د زمان لوبه سي ورته جوړه
په تورو تور سي، خاوري پر سر سي

۱۳۲۵ش

======

ښایستې! څله په ځان مغروره یې
په دې چي ځوانه یې؟ پیدا له نوره یې؟
که دا جگړه وه او دا مرگونه وو
یا به یې کونډه او یا به بوره یې

======

عشق یو اشا ده، سر و پښې غوڅي
ژړاند کوچنی دئ، ښونډي یې بوڅي
د خوار تلتک دئ، پرده پرې نه سي
چي سر په پټ کړې، پښې دي سي لوڅي

======

(c) ketabton.com: The Digital Library



غمو رنځور کړم، سختيو زوړ کړم
ډېرو مرګونو له ژونده موړ کړم
ممکن خو نه دئ غچ له تقديره
خدايه! دا زړه مي په څه شي سوړ کړم

======

چوپه چوپتيا ده، خطر هر آن راځي
يو مخ بامبو[46] دئ، ته وا خپګان راځي
له هوښيارانو مي اورېدلي دي
په خاموشي پسې ضرور توپان راځي

کابل د لوی اختر سهار ۱۳۲۲ش

======

عمر ځلوېښت سو مخ پر زړښت يم
مزه يې نسته که ځوان په سکښت يم
ځوري د پوهي مي زښته سپک دئ
ښښتن د برخي که پښت پر پښته يم

======

آ لويه لويه، ښښتنه لويه
ژر رسوه مي تر خپله کويه
که مستجاب مي دغه خواست نه وي
ژوندون به څه کړم مرګ راته بويه

======

[46] بامبو: مطلق سکوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



آ د څو ورځو په جاه جلال مسته
آ چې اچوې مرداري و خپل نس ته
اولنو پښتنو څومره ښه ویلي
دا متل دئ (که هوس و نو دي بسته)

======

تړ بنګړیو شرنګی ډېر وي په پایزېب کي
ادعاګاني وي اوچتي په نشېب کي
د واکمنو قول و فعل ته چي ګورم
زه له شرمه پزه ګرزوم په جېب کي

======

که ظالم غرَه په ظلم و په زور دئ
یا دا بل بیا خاتما په پردي کور دئ
نه به ظلم ورته پاته نه به زور وي
د ستم کور آخر وران، چپه نسکور دئ

======

په مغزو کي مي هرګوره شورماشور دئ
ستونی تل له غرېوه ډک همېشه شور دئ
د سکوت ځواک راځه تللی دئ معزور یم
ازمویلی مي پر ځان باندي خپل زور دئ

======

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشالي زمورِ د اختر په ډمامو سوه
په خوراک و په څنباک و په جامو سوه
زما اختر به هغه وخت وي اې يارانو
که مو پاکه له پردو څخه اورشو سوه

کابل - ۱۳۷۵ش

======

زمانه راته نا پايه لوی درياب سو
سراسر ژوند منجنيق سو منجلاب سو
بېگانه يې کړم له خپل و له پرديه
راته پاته يو قلم سو يو کتاب سو

======

نه قدرت د خوځېدو سته په لاسو کي
نه مستي نه تحرک پاته په زړو کي
چي دا نن ملک الموت راسي په خوښ يم
ما د دمخه ځان شمېرلی دئ په مړو کي

======

نه دا وايم چي دنيا مي د قارون وای
په عزت په دبدبه کي ناپيليون وای
باطني هيله مي دا، چي د خپل سر وای
د خپل واک د خپل اختيار وای خړ پړ شپون وای

======

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وصال په قړر پوه دي مهجوران
د خپل کور په خوند خبر دي پردېسان
پر لوحه د ژوند يې کښلي په غټ خط دي
(له زواله څخه وروسته وي ارمان)

======

پر ډګر د سياست چي چا ګام کښېښو
و راستۍ ته يې (فقط) د انجام کښېښو
عنايت دئ د پاک رب چي ځني خلاص يم
که نه، ډېرو راته لومه و دام کښېښو

======

چي يو آن ځان له عالمه بېګانه کړې
ماديات له يوه مخه درست ايله کړې
په لذت به دي ټول عمر خوله خوږه وي
په والله چي بيا (ډوډۍ پکښې ريزه کړې)

======

آزادي چي له يوه مخه نېستي سي
ابتذال و جهالت چي پر زياتي سي
اختناق و رسوايي هم سي ور ګډه
ځني جوړه به د نن (ولسواکي) سي

کابل - ۱۳۶۵ش

======

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاهدان ورپسې ګرزي په محراب کې
نجوميان يې لټوي په اسطرلاب کې
عالمونه سرګردان ورپسې ګرزي
ها خوندونې چې ليدلې په شباب کې

======

د فراق ورځې ډېرې اوږدې سوې
په ډېرو شولو مې کولمې پرې سوې
په ډېرو چغو مې کومی وچ سو
په ډېرو اوښکو سترګې کوکرې سوې

======

په ورکينه مې تمام کړل کتابونه
چې لږ غټ سوم بيا مېلې وې او ښکارونه
په سږ کال چې مې يو کم څلوېښت پوره سوه
مشغولا مې په قلم وايم شعرونه

کابل - ۱۳۲۵ش
======

چې پرون يې د زړه غوښې پر پېرزو وې
نن يې مخ ته په کفن کې لا نه ګوري
دا په دې چې پرون کار عند اللهي و
نن د نفس و د شيطان په نغوته ښوري

کراچي - ۱۹۹۰ع
======

(c) ketabton.com: The Digital Library



کالخوایان مو د وطن، شل ته رسېږي
د قدرت پر گدۍ نه سره جوړېږي
عاقبت مو دي په خير وي، متل وايي
(قصابان چي سي ډېرى مړ مردارېږي)

مونتريال-کاناډا - ۱۹۹۲ع
======

نن مي په زړه کي يوه چړيکه پنهاني تېره سوه
د پښتو دردونه راته وايي چي ځواني تېره سوه
ځواني يو خوب و يو خيال و هيڅ په پوه نسومه
تېره خو سوه مگر افسوس په ناداني تېره سوه

======

د ريا په غلافو کي تقواگاني دي خرڅېږي
زنهار وينمه د ږيرو په درزونو کي ځلېږي
پټوي زما له نظره په پردو محرم مخونه
آيينې يې خپلي توري نور هم تور ورته ښکارېږي

مغل رستورانت- ټورنټو -کاناډا - ۱۹فبروري ۱۹۹۹ع
======

تفاوت راڅخه ورک سو چي دا غم دئ که ښادي ده
پلوونه دي بادېږي د اسراف پر سر سيالي ده
هلته وږونه مري له لوږي دلته موړ په غوړو لامبو
دا نه ننگ دئ، نه مېړانه هسي خوشي ناپوهي ده

اوکويل-کاناډا- ۱۹۹۹ع
======

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اولس ښاغلي سپک په بيده قام وي
ويښ قومونه خپل مشران ستايي په نېکو
هوښياران اواروي لانجې په سوله
مورِ دي توري تر خپل منځ کښلي له تېکو

======

چي د ميني پر معيار مي
تا او گل ته وکتله
گل مي خوښ سولی يو ځلی
ته مي خوښه سوې تر تله

(د يو فرانسوي شعر ژباړه )

======

کراچي نه دئ د اور تبۍ ده
لاس و مغزي ته ولچک زندۍ ده
د ازل کښلو رواستم دلته
تقدير ته غاړه تر تار نرۍ ده

کراچي - ۱۳۲۸ش

======

په وطن کي مي کتاب و مشغولا
له قلم سره همېش وم همنوا
په دې ملک کي علم نسته قلم ورک دئ
مشغولا مي ده د کور سود و سودا

======

(c) ketabton.com: The Digital Library



حافظه مي ورځ په ورځ کمزورې کېږي
روښنايي د ستګو دم په دم کمېږي
شين امي به راخه جوړ سي په دې ملک کي
ها چي زده مي وو، ورو ورو راڅه هېرېږي

کراچي- ۱۹۸۹ع
======

## د تجزيې خطر

ما يې غم کړ د تاريخ چي مسخه کيږي
مفاخر مو د وطن ټوله هېريږي
يو هوښيار سړی موسکی سو، ول لاليه
تاريخ څه جغرافيه مو محوه کيږي

اوکويل-کاناډا- ۱۵اکتوبر۱۹۹۲ع د سهار ۴ بجې
======

## د نغري قدر

نصيب راپردېس کړی يم،کارونه تقديري
وينه د بې لرزی مي کړی ورځ ماغزه را خوري
قربان د اولنو تر دا پخو پخو خبرو
(مړونه قدرمن وي پر خپل کور پر خپل نغري)

تورنټو-کاناډا - ۱۹۹۷ع
======

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما وطنه! تېر کال هم دلته را یاد سوې[47]
سږ کال هم دغه ځایګی خو ته آزاد سوې
له دې وروسته که پښتون یو موټی نه سو
نو به لوی جارو وهمه چې (برباد سوې)

پنجاب - ریل ګاډی - ۱۹۹۲ع

======

څه فایده ده د ارمان و د ایکاش
د ناشکرو خلکو وي همدا پاداش
ښېږې اوه پښته میشته پر کندهار وو
نن أر ټوله کُره تیت یو لکه ماش

میسیساګا - کاناډا - ۲۰۰۲ع

======

پر وطن باندي مو سږکال وچکالي ده
رحمت نسته ځکه ورکه سوکالي ده
باران رحم دئ پر هغه اولس اوري
چي سینه یې له کینو څخه خالي ده

======

[47] زه په ۱۹۹۱ع کال له پنجابه په اورګاډۍ کي کراچي ته تلم د وطن یاد مي یو شعر ووایه چي د همدې مجموعې په (38) مخ کي راغلی او نوم یې (را په یاد چي سې وطنه) دئ. په دا بل کال ۱۹۹۲ع په هماغه میاشت کي بیا پر هماغه ځای په اورګاډۍ کي تېرېدم. په دې وخت کي په کابل کي د مجاهدینو حکومت و. ما پورتنۍ روباعي وویله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی غتې سرې یو نه د خاپوړو
تونگ د شیطان دئ چې سره مروړو
لاره د حق مو ده خوشې کړې
رحمت یې غواړو تش په ارګوړو

۲۰۰۰ع

======

ترقي د اولسونو هوسايي ده
امنيت دئ، ارامي ده کراري ده
چې دا نه وي هيڅ باور به يه ونکړم
تش خبري دي، درواغ دي لفاظي ده

کابل - ۱۳۲۱ش

======

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**